الله اکبر
WRITERS UNION OF FREE AFGHANISTAN
WUFA
1985

حبیب الله رفیع

په افغانستان کې دښځینه زده کړو تاریخي سیر

۱۳۷۵

په افغانستان کې د ښځینه زده کړو تاریخي سیر

PROPERTY OF
ACKU
6010

لیکوال

حبیب الله رفیع

۱۳۷۵ هـ ش

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : په افغانستان کې د ښځینه زده کړو تاریخي سیر

لیکوال : حبیب الله رفیع

خپرونکی : د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه

د چاپ مهتمم : محمد ظاهر بابري

د چاپ شمیر : ۲۰۰۰

د چاپ ځای : ټاپ پرنټرز - پیښور

د چاپ کال : ۱۳۷۵ هـ ش مطابق ۱۹۹۶ ع

کمپوزر : سید حسین پاچا

سریزه

بنځې چې د یوې ټولنې نیمایي برخه جوړوي په افغاني ټولنه کې د زده کړې او کلتوري فعالیتونو له اړخه ډېرې وروسته پاتې دي او کله چې د هیواد د خپلواکۍ تر ترلاسه کولو وروسته د زده کړې او کلتوري فعالیتونو زمینه ورته برابره شوه ، دوی لا په نیمه لاره کې وې چې د عرفان په بڼ بې د خزان توندې سیلۍ ولګیدې او دا تاندې غوټۍ بې وریژولې ، ډېر ګلونه واوښتل او ډېر وختونه تیر شول چې دا خزان وهلی بڼ یوځل بیا ورو - ورو تاند او سمسور شو خو بیا هم وار په وار توندې سیلۍ پرې والوتلې او خزاني ورځې پرې راغلې .

په افغانستان کې د ښځو د زده کړو او د ښځو د فرهنګي فعالیتونو په باب خواره واره مواد ترلاسه کیدل خو بشپړه څېړنه چا نه

وه پرې کړې ، ما شل کاله وړاندې د مجونو د زده کړو او د ښځو د
فرهنګي چارو د تاریخچې لپاره لومړی لاس مواد او اسناد راغونډ کړي
وو ، د دې څېړنې لومړی برخه د « کهول » مجلې د لومړي کال په
لومړۍ ګڼه کې د ۱۳۵۵ کال په سلواغه کې خپره شوه خو پاتې کار
رانه وځنډېد چې په دې کې د هیواد د حالاتو په بحراني کیدلو سره زه
هم آواره شوم او زما راټول کړي یادداشتونه هم خواره واره ؛ درې کاله
وړاندې په دې برخه کې زما ځینې راټول کړي مواد په کابل کې د خپل
کتابتون له پاتې شونو نه بیا لاس ته راغلل او ویریدم چې که ونه
لیکل شي بیرته به راته خواره واره شي .

له نیکه مرغه د « تعاون » مجلې چې د ښځو حقوق یې د غوښتنو
په سرلیک کې دي دا زمینه یو ځل بیا راته برابره کړه چې په دې اړوند
راسره پاتې مواد او اسناد سره راغونډ او د دې څېړنې په ترڅ کې یې
ستاسو درنو لوستونکو حضور ته وړاندې کوم . دلته دا هم د یادولو ده
چې ما مواد د تاریخي څېړنې تر اړتیا زیات، بلکه په ګزارشي بڼه
رااخیستي ځکه چې دا مواد له داسې نایابو لومړی لاس مجلو ، کلنیو
او کتابونو نه اخیستل شوي چې اوس د قلمي نسخو حیثیت لري او د
راتلونکو څېړنو لپاره د پاخه بنسټ کار ورکولای شي او هم جالب او په
زړه پورې ټکي لري او دومره ژوندي دي چې سړی د دې زده کړو جریان
ته د لوستونکي په حیث نه ، بلکه د لیدونکي په حیث کښینوي او له
همدې امله په لیکنه کې اطناب په قصدي او عمدي توګه راغلی دی .

زما د لیکنې خپریدلو په « تعاون » مجله کې دوام درلود چې د
آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې راته وویل چې : دې لیکنې ته کتابي
بڼه ورکړم او دوی ته یې وسپارم ، دا دی د دې ټولنې غوښتنه په ځای
کوم او دا رساله ستاسو مخې ته ږدم . البته په دې رساله کې د ښځو د

زده کړو او کلتوري فعالیتونو په اړه له شروع تر ۱۳۵۷ کال پورې معلومات راغلي تر دې وروسته یوه بحراني دوره ده چې د ښځو د زده-کړو او کلتوري فعالیتونو په برخه کې له زیات افراط او تفریط نه کار اخیستل شوی چې بیله څیړنه غواړي .

هیله لرم چې د موضوع علاقمندان دا لیکنه په دې اړوند د لومړي ګام او مدخل په توګه ولولي او استفاده ترې وکړي ، همدا راز هیله لرم څینې ګران لوستونکي چې په دې اړه زیات مواد او منابع ولري ، یا په دې لیکنه کې له ناسمیو او نیمګړتیاوو سره مخامخ شي د وروری او لورینې له مخې ماته ولیکي او د دې لیکنې په بشپړتابه کې راسره مرستې وشي .

په مینه

حبیب الله رفیع

۱۳۷۵ / ٤ / ۲٤

فهرست

سرليك	مخ
* لومړى څپركى	
په افغانستان كې د نجونو د زده كړو آغاز	۱
لومړنۍ هڅه	۲
د مستوراتو ښوونځى	۲
نور ښځينه ښوونځي	٦
د ازموينو نتيجې	۷
د انعامونو ويشلو مجلس	۸
ارشاد النسوان د مستوراتو د ښوونځي خپرونه	۲۱
د نجونو له زده كړو سره مخالفت	۲۸
د نجونو د زده كړو پرمختيايي گامونه	۳۱
خارج ته د نجونو ليږل	۳۲

سرلیك | مخ

* دوهم څپرکی

په افغانستان کې د نجونو د زده کړو بندیدل ۳۸

* دریم څپرکی

د نجونو د زده کړو بیا پیلیدل او پرمختایي گامونه ٤٠

د نجونو د زده کړو د ودې بهیر ٤٢

* څلورم څپرکی

نوي افقونه ٥٣

د میرمنو ټولنې جوړیدل ٥٣

* پنځم څپرکی

د نجونو لوړې زده کړې ٦٤

د نجونو د ساینس او ادبیاتو پوهنځی ٦٤

د نجونو د طب پوهنځی ٧٠

د کورنې چارو پوهنځی ٧١

گډې زده کړې ٧٢

د نجونو لیلیه ٧٩

د نجونو لپاره بهرنۍ زده کړې ٧٩

PROPERTY OF ACKU
6010

لومړی څپرکی
په افغانستان کې د نجونو د زده کړو آغاز

په افغانستان کې په ۱۹۱۹ کال د خپلواکۍ د روښانه لمر په راختلو سره د هیواد د ودانۍ او آبادۍ د هر نیالګي لپاره د ودې او سمسورۍ زمینه برابره شوه ؛ د وخت خپلواک حکومت په یوه انقلابي حرکت سره په هر څه کې بدلون راووست ؛ قوانین جوړ شول ، مطبوعات پراخه شول او د پوهنې په برخه کې بې ساري او چټک ګامونه واخیستل شول ؛ د هیواد په ګوټ - ګوټ کې لومړني ښوونځي پرانیستل شول او د هیواد په مرکز او پایتخت کې د ښوونځیو د عمومي پیاوړتیا او پراختیا په څنګ کې د هیواد د نیمايي محرومو اوسیدونکو یعنې ښځمنو غمه هم وخوړه شوه او د دوی د باسواده کولو لپاره هم فکر او کار وشو ، ځانګړي ښوونځي ورته جوړ شول او د فرهنګي فعالیت زمینه

ورته مساعده شوه چې په دې ليکنه کې به په تفصيل سره وړاندې شي.

لومړنۍ هڅه

د ۱۲۹۹ هـ ش کال د غبرګولي په ۱۸ نيټه (د ۱۹۲۰ د جون ۸) لومړی ځل د وخت د پاچا په امر د معارف د نظارت (د پوهنې وزارت) له خوا يو « انجمن علميه » جوړ شو ، د دې ټولنې ټول غړي د وخت پياوړي او وتلي عالمان او پوهان وو ؛ دوی د پرله پسې غونډو په ترڅ کې د هيواد د پوهنې په باب ځينې مواد د يوې لايحې په بڼه تصويب کړل چې د دې لايحې په يوولسمه ماده کې د « نسوان » د ښوونځي د پروګرام ترتيبول ونيول شول . (۱)

همدا وخت د معارف د وزارت په اساسي نظامنامه کې د نجونو ښوونځی ، دارالمعلماتونه او نور د زده کړې مراکز د هلکانو له ښوونځيو دارالمعلمينونو او نورو روزنيزو مرکزونو سره يوځای ياد شول او د ګډې ودې د زمينې تضمين يې وشو . (۲)

د مستوراتو ښوونځی :

په ۱۹۲۰ ع کال کې د وخت ملکې « ثريا » د ښځو په يوه غونډه کې د زده کړې او پوهنې په ارزښت ، د نړۍ د ښځو پر پرمختګ او د افغاني ميرمنو په وروسته والي خبرې وکړې او په همدې غونډه کې پنځوس تنې افغاني ميرمنې حاضرې شوې چې د نجونو د ښوونځي په جوړولو کې برخه واخلي او داوطلبانه خدمت وکړي ، ملکې ومنله چې دا به د دې ښوونځي د تفتيش چارې په خپله ترسره کوي . (۳)

حکومت په نظر کې درلودل چې په پغمان کې د نويو سرکاري

ودانیو په ترڅ کې د مستوراتو د ښوونځي لپاره هم یوه ودانۍ جوړه کړي خو څرنګه چې د کابل ښار مرکز د دې کار لپاره موزون ؤ او هر څوك ورته رسیدای شول نو له دې کبله د مستوراتو ښوونځی په مرکز کې جوړ شو (٤) او د « بوستان سرای » (د اوسني زرنګار پارك) یوه برخه یې د نجونو د ښوونځي لپاره ځانګړې کړه . (٥)

د ۱۲۹۹ هـ ش کال د مرغومي په ۱۹ (د ۱۹۲۱ دجنوری ۹) نیټه ، د دوشنبې د ورځې په دوو بجو د مستوراتو د ښوونځي په انګړ کې لومړی ځل ګڼ شمیر میرمنې راټولې شوې او د دې ښوونځي د پرانیستل کیدو مراسم پیل شول .

د ښوونځي په پرانستونکو مراسمو کې ملکې ثریا د دې ښوونځي پر ضرورت باندې د یوې وینا په ترڅ کې رڼا واچوله او وې ویل :

« الحمد لله نن ورځ موږ میرمنو ته یوه ډیره ښه ورځ ده چې د خپل غازي پاچاﷺ شیوري کې موږ د نجونو ښوونځی پرانیزو . هیله ده چې زموږ د هیواد اولاد له دې ښوونځي نه ګټه واخلي او د خپل دین ، دولت او ملت لپاره له وس سره سم خدمت وکړي . ټولو حاضرو درنو میرمنو ته څرګنده ده چې د علم زده کړه پر نارینه او ښځه یو ډول فرض ده او د ښوونځي دا فضیلت چې موږ ښځو ته راورسید زموږ د ځوان او غازي ټولواك د پاملرنې او د پوهنې د جناب ناظر صاحب د همت او هڅو له برکته دی . لومړی د خپل پوه پالونکي ټولواك د ژوند دعا کوو او له لوی خدای نه د معارف د جناب ناظر صاحب نیکنامي غواړو . آمین » .

د وینا په پا ی کې راغلو میرمنو او نجونو په ډیر شور او ځوږ خپل تاوده احساسات څرګند کړل ، چکچکې یې وکړې او ځینې ښځې له ډیرې خوښۍ څخه په ژړا شوې او خپل احساسات یې د اوښکو په رڼو څاڅکو کې وځلول . (٦)

تر دې وروسته د ښوونځي مديرې د مستوراتو د نوي ښوونځي پرانستل کيدلو په باب خپله وينا په دې ډول واوروله :

« درنو ميرمنو !

نن يوه د خوښۍ ورځ ده چې دلته د يوه نيک کار لپاره راغونډې شوې يو ، څرګنده ده چې دا غونډه د مستوراتو د ښوونځي لپاره شوې ، يعنى د خپل ملت د لونو د زده کړې لپاره د دوی ځوان ، غازي او مهربان پاچا امير امان الله خان ښوونځی جوړ کړی دی . دا لومړی ځل دی چې د افغانستان په پايتخت کې د ښځينه زده کړو لپاره ښوونځی جوړ شوی دی ، تر دې وړاندې د هيچا ياد نه دي چې د نجونو د زده کړې لپاره دې ښوونځی جوړ شوی وي . الحمد لله چې نن موږ دا لویه نيکمرغي په خپلو سترګو وينو . محترمو حاضرينو خويندو ! زموږ اعليحضرت ښه فکر کړی او پر خپل ملت يې ډير احسان کړی چې ښځينه زده کړې يې په هيواد کې پيل کړې ، ځکه که خيال وکړو چې په يوه ښار کې پنځوس زره انسانان وي ، له تر لږه شل زره تنه به يې ښځې وي نو که د علم زده کړه يوازې د نارينه وو لپاره ځانګړې وي او ښځې ترې بې برخې شي نو ګواکې د نومړي ښار نيم انسانان معطل او له انسانيت نه بې برخې پاتې کيږي ځکه چې د انسانيت ژوند د علم له زده کړې او کوښښ سره تړلی دی . نو له دې امله ټولې لاسونه دعا ته پورته کوو او له لوی خدای نه خپل غازي او مهربان پاچا ته د ده په ښو کارونو کې توفيق غواړو » .

تر دې وروسته ټولو حاضرو ميرمنو په يوه غږ د خپل معنوي پلار د « ژوندی دی وي » شعارونه ورکړل او د ښوونځي مرستيالې دا دعائيه وينا وکړه :

« له خپل لوی خدای نه غواړو چې زموږ ځوان غازي پاچا دې روغ ولري

او په خپلو هيلو کې يې دې بريالی کړي ، موږ عاجزانو ته دې توفيق راکړي چې د مستوراتو په ښوونځي کې په داسې ډول خدمت وکړو چې د خپل اولی الامر رضا ترلاسه کړو » . (۷)

د مستوراتو د ښوونځي د پرانستل کيدو د مراسمو په جريان کې د دې ښوونځي يوې ښوونکې هم يوه د تاريخي ارزښت درلودونکې وينا وکړه چې لنډيز يې دا دی :

« ای د هيواد پاک لمنو لونړو او مستوراتو او ای د علم او فن تلوسه لرونکو !

نن چې د دې فيض مکسب مکتب د پرانستو ورځ ده او لومړی گام دی چې موږ او تاسو يې د پوهې پر زينه ږدو ، وړومبی بايد د دې لوی نعمت شکرانه د زمکې او آسمان د خالق او د عليم او پوه خدای جل جلاله دربار ته د زاری او التجا په ژبه ادا کړو چې يو داسې ترقي غوښتونکی ، دين ساتونکی او رعيت پالونکی پاچا يې راکړی چې پاملرنه يې تل د افغان د نجيب ملت د قابليت او دانايی او د علم او عرفان د خورولو په لور ده او نه غواړي چې د دې بختورې خاورې د يوه تن د همت جيب هم له داسې ارزښتناک جوهر او بې انتها دولت نه خالي وي : له هغې ورځې نه چې د دوی شاهانه ذات د سلطنت څوکی په خپلو نيکمرغو قدمونو وياړلې ده ، د معارف پالنې او پوه خپرونې په لاره کې يې ډيرې هڅې او بې ساري هاندونه کړي چې له هغې څخه يو هم د دې عصمت مکسبه ښوونځي تأسيس دی چې په دې توگه د خپل غازي پلار د ملت نوازی‌له شکر نه نه شو وتلای ... .

د افتتاحيه مجلس په پای کې د ښوونځي د دينياتو ښوونکې د فاتحې سورة په لوړ غږ قرائت کړ چې په پای کې ټولو هغو نجونو چې ښوونځي ته د درس لپاره راغلې وې « آمين » ورسره ووايه . (۸)

د دې ښوونځي تشکیلات او د زده کوونکو شمیر :

د مستوراتو د ښوونځي عمومي مفتشه او څارونکې په خپله ملکه ثریا د اعلیحضرت غازي امان الله ماندینه وه ، مدیره یې محترمه اسما رسمیه د علامه محمود طرزي ماندینه وه ، د مدیرې نایبه میرمن روح افزا د خازن الکتب محمد زمان خان طرزي لور وه او د ضروري علومو د زده کړو لپاره یې یو شمیر ښځینه ښوونکې درلودې . (۹)

د مستوراتو ښوونځي د پرانستل کیدو په ورځ ۳٤ زده کوونکې درلودې خو څو ورځې وروسته ۸۰ تنو ته ورسیدې او اټکل شوی ؤ چې دا شمیره ۲۰۰ تنو ته ورسیږي (۱۰) لکه چې د همدې کال په اپریل کې دا شمیره ۲۰۰ تنو ته ورسیده او د پاتې زده کوونکو لپاره بیل ښوونځی جوړ شو . (۱۱)

نور ښځینه ښوونځي :

د ۱۹۲۱ کال د اپریل په ۲۰ نیټه د « عصمت » د ښوونځي په جوړیدلو سره د نورو نجونو د زده کړو لپاره هم زمینه برابره شوه او د دواړو ښوونځیو د نجونو شمیره له ۲۰۰ تنو نه په زیاتون شوه ، همدا وخت امان الله خان د نجونو د دوو نورو ښوونځیو د جوړولو فرمان هم ورکړ او د دې ښوونځیو د لګښت لپاره یې له خپل عین المال نه ۲٤۰۰۰ روپۍ وروبخښلې او ژمنه یې وکړه چې د دې دواړو نویو ښوونځیو د زده کوونکیو خواړه او جامې به هم د دولت له خوا ورکول کیږي . (۱۲)

د دې ښوونځیو په تعلیمي نصاب کې د نورو عمومي مضمونونو ترڅنګ د اخلي پخلي ، ګنډلو اوبدلو ، کورني ژوند ، ماشوم روزنې ، د نړۍ د نامتو ښځو د تاریخ او له ښځو سره د اړوندو دیني مسایلو

مضامین هم شامل وو چې د دوی درسي نصاب یې د هلکانو له نصاب نه بیلاوه او حکومت دوی ته د دی مضامینو ځانګړي کتابونه خپرول (۱۳). چې په دې لړ کې « امان النسوان » د لومړي ، دوهم ، دریم او څلورم ټولګي لپاره « ادارة الدار » او د پنځم ټولګي لپاره د قاري عبدالله په قلم لیکل شوی « فارسي قرائت » هغه کتابونه دي چې د نجونو لپاره په اختصاصي ډول د پوهنې وزارت د دارالتألیف ریاست تألیف او خپاره کړي دي . (۱٤)

د ازموینو نتیجې :

تر یو کلني زده کړې وروسته د ۱۳۰۰ د مرغومي په ۱٦ (د ۱۹۲۲ د جنوری ٦) د مستوراتو د ښوونځي تعلیمي کال پای ته سید او د مرغومي په ۱۷ نیټه یې ازموینه پیل شوه ، د ازموینې د اخیستلو او د مستوراتو د ښوونځـي د یو کلن تعلیمي کال د کتنې لپاره : د پوهنې وزیر محمد سلیمان خان ، د پوهنې وزارت مستشار سید قاسم خان ، د حبیبیې مدرسې مدیر محمد حسین خان ، د کاکا د باسواده کولو د طرز جوړوونکی سید احمد خان او قاري محمود خان ښوونځي ته ورغلل ، له اسلامي مقرراتو سره سم د یوې پیرړې پردې شا ته ځای ورته جوړ شوی ؤ چې د پردې بل اړخ ته د ښوونځي ښوونکې او زده کوونکې ناستې وې ، دوی د مرغومي له ۱۷ تر ۲٦ پورې پرله پسې ازموینه وڅارله او هم یې پوښتنې وکړې ، د پوهنې وزیر پـه خپل رسمي گـزارش کې د دې ازموینې د نتیجو په باب ولیکل : په دې لړ وخت کې چې یوازې یو کال د دې زده کوونکو پر زده کړه تیر شوي ، په خپله زده کړه کې دومره وړاندې دي چې زده کړه یې له درې کلن عمومي تعلیم سره سیالي کوي ، پر دې سربیره نجونې

ټولې په خپلو ازموينو کې بريالۍ وې او زيات ګټور معلومات يې درلودل چې د قدر او درناوی وړ دي . (۱۵)

د معرف معارف مجلې په خپله تبصره کې چې غالباً د مدرسې د مدير محمد حسين په قلم ده چې د ممتحنينو په ډله کې هم ؤ له هلکانو سره د دې نتايجو د پرتلې په ترڅ کې وليکل : د هلکانو په ښوونځيو کې په اوسط ډول نتيجه داسې راوزي چې په يوه ځلويښت کسيز ټولګي کې ۳۰ يا که ډير وي ۳۵ تنه بريالي کيږي او نور ناکاميږي او دا ديرش پنځه ديرش تنه هم د نومرو له مجموعې نه نيمايي او که ډيرې واخلي دوه ثلثه نومرې ترلاسه کوي سره له دې چې د نجونو د ښوونځي زده کوونکې په يوه ټولګي کې ټولې بريالۍ شوې او د يوه ټولګي ټولو زده کوونکيو تر دوو ثلثو زياتې نومرې واخيستلې ، د حيرانۍ وړ دا ده چې په ځينو ټولګيو کې ټولو زده کوونکو ټولو پوښتنو ته مفصل او مکمل ځواب ورکړ او ممتحنين يې اړ کړل چې په ډير زيات دقت او ځيرنه د انعام وړ زده کوونکې وټاکي . (۱٦)

د انعامونو د ويشلو مجلس :

د مستوراتو د ښوونځي د لومړنۍ ازموينې د نتيجو تر راوتلو وروسته د دې ښوونځي د زده کوونکو د تشويق او هڅونې لپاره ممتازو شاګردانو ته د انعامونو د ورويشلو يو مجلس د ۱۳۰۰ کال د سلواغې په ۲۲ نيټه (د ۱۹۲۲ د فرورۍ ۱۲) د « ستور » د مانۍ په لوی تالار کې جوړ شو ، د سهار په نهو بجو زده کوونکې چې له وطني ټوکرانو نه يې د ښوونځي خاص لباس جوړ کړی او خاص ډول تورې چادرې يې په سر کړې وې د ښوونځي د مديرې او نورو کار کوونکو په لارښوونه په يوه خاص نظم په ټاکلو ځوکيو کښيناستې ، په لسو بجو

عليا حضرت صاحبه (د اعليحضرت امان الله خان مور) والاحضرت صاحبه د ښوونځي مفتشه (ملکه ثريا د اعليحضرت ماندينه) او د شاهي کورنۍ نورې ښځې ، د بهرنيو سفارتونو د سفيرانو ميرمنې د تالار په بره برنده کې کښيناستې ، د ښوونځي د نجونو ميندې هم چې په کارتونو راغوښتل شوې وې په تاکلي ځای کې کښيناستې او بيا ملکې ثريا د غونډې مقدماتي خبرې وکړې او وې ويل :

« د درنې عليا حضرت او نورو درنو خويندو د راتلو مننه کوم ، دا څرګنده ده چې دا زمانه د علم او کمال زمانه ده ، کومو ملتونو چې علم او صنعت زده کړ لوی – لوی دولتونه شول او بې علم او صنعته ملتونه د دوی لاس کتوی او اړ پاتې شول ، علم او صنعت دی چې ملتونه په هغې مدنيت او نيکمرغي ترلاسه کوي نو ځکه زموږ مقدس دين د علم د زده کړې پريکړې حکم کړی که څه هم دا زده کړه ډيره لرې او په چين کې وي . دا هم له تاسو نه پټه نه ده چې ويلي يې دي : « هغه کار چې دوه لاسونه يې ترسره کوي يو لاس يې نه شي کولی » نارينه او ښځه د انسانيت د وجود دوه لاسونه دي نو که يو لاس بې کاره وي تاسو په خپله پوهيږئ چې انساني کړه نيمګړې پاتې کيږي . د لوی خدای ثنا او ستاينې دي چې د افغانستان نجيب ملت هم داسې حالت ته ورسيد چې اوس يې د همت په دواړو لاسونو د خپل ژوند چارې پيل کړې دي . پادشاه چې د ملت د وجود طبيب دی د دې علت په تشخيص ښه پوه شوی او په يوه داسې همت او اراده يې چې د همداسې مجاهد او روښانفکره پاچا سره جوړيږي ، د ملت د وجود د دې شل پاتې لاس علاج د ښځينه ښوونځيو په جوړولو سره وکړ ، نن د دې غونډې مطلب لومړی د دې جشن نيول دي چې تر يو کال کړاو وروسته چې د نجونو په روزنه کې ايستل شوی ، د هغې نتيجه ستاسو مخې ته کښيښودل شي

خو وګورئ چې له بې علمۍ نه ترعلم پورې څومره واټن دی ؟ (۱۷)

تر دې وروسته ملکې د ښوونځي نجونو ته بلنه ورکړه چې د خپلو وېناوو په ترڅ کې د خپلې زده کړې نتایج وړاندې کړي .

تر هر څه وړاندې د دوهم (ب) ټولګي یوې زده کوونکې په زړه وړونکي غږ د قرآن کریم د فاتحې له سورة سره د « انا فتحنا » د سورة د یوې رکوع تلاوت وکړ او بیا د دوهم (الف) ټولګي یوې زده‌کوونکې (کبری بیګم) د خپلې اوږدې وینا په ترڅ کې د علم د ارزښت په باب څرګنده کړه :

« درنو میرمنو !

تاسې ټولې پوهېږئ چې څه وخت وړاندې مو فکر کاوه موږ ښځې یوازې د دې لپاره پیدا شوې یو چې په کورونو کې کښېنو او تر جارو کولو او سکرو تازه کولو پرته بل کار ونه کړو او د خپلو ټولو اړتیاوو بار د نارینه وو په غاړه واچوو ... محترمو میرمنو ! تاسې وګورئ د نړۍ له ښځو نه څومره وروسته پاتې یو او تر کومه حده مو د خپل وطن په ترقۍ کې سکتې او سستۍ راوستې دي ... نن که د پرمختللو هیوادونو حیرانوونکو پرمختګونو ته نظر وکړو اټکل کولای شو چې د هر دولت نیمايي پرمختګ د هغه دولت د ښځو له کړاو ګاللو سره اړه لري څکه چې هغوی د نارینه وو غوندې ځانونه د خپل وطن د ښه کیدو د وسایلو په برابرولو کې مکلف او مؤظف بولي .

دې وویل : ښه ! که وغواړو چې د دوی د فعالیت او زموږ د کسالت سبب معلوم کړو همدا یوه خبره ده چې هغوی علم زده کړی او موږ ناپوهې پاتې یو ، دا زموږ د پوهیدو لپاره کافي دي د همدې خپلې ناپوهۍ له امله نه یو پوهیدلي چې دولت څه شی دی ؟ ملت له څه نه پیدا شوی ؟ همت څه معنی لري ؟ او د غیرت نیالګی څنګه میوه

کوي ؟ او نه يو پوهيدلي چې علم د يوه دولت د ژوند سبب دی او د يوه ملت د نيکمرغی ... » .

دې په پای کې وویل : « ای د هيواد درنو ميرمنو ! د نړۍ د ښځو حال وګورئ د خپلو نيمګړتياوو په لرې کولو کې شئ او د خپل ژوندانه په چارو کې له نارينه وو سره ګډې او مرستيالې شئ ، علم زده‌کړئ ! خپلې خويندې د علم په ګټو خبرې کړئ او د خپل پاچا د سر دعا وکړئ چې داسې فرصت يې په لاس درکړی دی ... » . (۱۸)

په دې پسې د دوهم الف ټولګي يوې بلې زده کوونکې د دينياتو په ارزښت خبرې وکړې او وې ويل : « د ډيرې مننې ځای دی چې نن د خپل دين پالونکي پاچا د پاملرنې له برکته زموږ د ګران هيواد په هره خنډه څورګه کې مدرسې جوړې شوې چې لوی هدف يې د دين تعليم او د اسلام د اوامرو ورښودل دي . لکه موږ عاجزې چې تراوسه نه پوهيدو قرآن کريم څنګه سم ولولو او لمونځ چې زموږ د پيغمبر (ص) له لارښودنو سره سم وي څنګه وکړو او د اسلاميت شرايط څنګه پرځای کړو ، اوس مو د خپل دين ډير ضروريات زده کړي ، پاتې هم زده کوو او پر هغه څه چې خدای (ج) پر موږ فرض کړي پوهول کيږو ... » . (۱۹)

په دې پسې يوې بلې زده کوونکې د جغرافيې د علم په باب يوه خوږه وينا وکړه چې ځينې ټکي يې دا دي :"موږ تراوسه د جغرافيې نوم هم نه پيژانده ، اوس مو د فن په سيوري کې په ښوونځي کې زده کړل چې جغرافيه يو ډير شريف او د زده کړې وړ علم دی ځکه چې جغرافيه د ځمکې حال بيانوي ، زمکه زموږ استوګنځی دی ، زموږ د هيواد ځينې کسان فکر کوي چې جغرافيه زموږ له اسلامي عقيدې سره مخالفه ده خو داسې خبرې چې د اسلام د پاکې عقيدې سره مخالف دي جغرافيه هيڅکله موږ ته نه راښيي ... د جغرافيې له مخې پوهيږو

چې په نړۍ کې څومره دولتونه دي ؟ خلك او اوسيدونكي يې څومره دي ؟ زموږ دوستان دي که دښمنان ؟ زموږ دين شريكي دي كه بې دينه ؟ تجارت يې څه ډول دی ؟ مذهبونه يې کوم دي ؟ ژوند څنګه کوي ؟ د هيوادونو پراختيا يې څومره ده ؟ زموږ د هيواد کومې خوا ته او په کوم واټن واقع دي ؟ چې د هسدې نقشې په وسيله خپله دا خبره درته ښودلای شم ....

نوموړې بيا په نقشه ګوته کښيښوده او نقشې ته په اشارې کولو سره يې د اوږدو خبرو په ترڅ کې وويل : کيڼ اړخ ته نيمه کره امريکا ده ، څنګه چې پنځه سوه کاله کيږي چې کشف شوې نو څکه مسلمانان ډير نه دي پکې اوسيدلي ، البته زموږ د غازي پاچا سفير د هغې پايتخت ته تللی او د افغانستان د خپلواکۍ اعلان يې پکې کړی دی . له دې ځای نه بيرته راګرځو خپل پاك وطن افغانستان ته چې په دې رنګ د آسيا په قاره کې پروت دی ، تاسې وينې څه چې وطن مو دومره وړوکی دی (دا نه ده هر چې په قامت لوی وي په قيمت لوی وي) تاسې د خپلې تسلی لپاره برتانيه وګورئ او په بل طرف براعظم کې جاپان وګورئ چې ترهغې هم وړوکی دی خو د خپل علم او هنر له امله يې په لويو - لويو هيوادونو باندې بری موندلی دی ، اوس هم چې زموږ غازي پاچا د وطن زامن يورپ ته ليږلي د علم د زده کړې لپاره دي ، دې کرښې ته وګورئ چې له دې ځای نه تير شول تر فرانسې پورې ورسيدل او اوس د فرانسې په « ليس مشلی » ښوونځي کې زده کړه کوي . يو وخت د هسدې فرانسې جنوب د مسلمانانو په لاس کې ؤ او ځينې ښارونه يې لاتراوسه عربي نومونه لري ... اوسپين (هسپانيه) چې د مسلمانانو په قبضه کې وه دوه لوی ښوونځي پکې وو « قرطبه » او « غرناطه » چې د ختيځ او لويديځ زامن يې روښانول نن چې يورپ د

علم څراغ غوړولی د اسلام له همدېډوو سپوږمکیو نه یې رڼا پور کړې ده ، موږ چې د خپل هیواد زامن یورپ ته لیږو د خپل مال د ترلاسه کولو لپاره یې لیږو ، لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : « الحکمة ضالة المؤمن » حکمت د اسلام یو ورك شوی شیز دی له هرځای نه یې چې ومومند بیا دې مومي . مسلمانانو غفلت وکړ کوم علم او هنر یې چې درلود له لاسه یې ووت ، بلکه سلطنت یې هم له لاسه ووت ...». (۲۰).

وروسته یوې زده کوونکې (پیغلې حنیفې) د انځور کښلو په برخه کې وینا وکړه او خپل یوه قطعه جوړ کړی انځور یې درنو میرمنو ته وروښود چې وستایل شو ، دې وویل :"د رسم هنر یو نفیس او با شرفه هنر دی چې دماغ روښانوي او خیال لوړوي . د علمي چارو پرمخ بیولو کې ډیره مرسته کوي ، انجنیران څو د رسم فن زده نه کړي ماشینونه نه شي جوړولای او کوم کار یې له لاسه نه کیږي ...».

د رسم تر ګټو وروسته یې ښځو ته څرګنده کړه چې"که یوه میرمن رسامي زده کړي او په کور کې تابلوګانې جوړې کړي او بازار ته یې وباسي کولای شي چې هم ځان مصروف کړي او هم د خپل کور اقتصاد پیاوړی کړي او که ښه ماهره شي بیا نو د ښو رسمونو بیه ډیره لوړه وي ...". (۲۱).

بیا یوې بلې زده کوونکې د ګنډلو او اوبدلو پر فن رڼا واچوله او په یوه کال کې یې هغه کمیسونه ، ګلونه ، خولۍ او جورابې چې په خپله ئې ګنډلي او اوبدلي وو حاضرینو ته بیان کړل او ویې ویل :"هرکال په راز - راز پشمي او نخي لباسونو باندې د وطن څومره پیسې لګوو او بهر ته یې باسو او په بې خبرۍ کې د پردیو هیوادونو په تجارت کې تر کومه حده مرسته کوو او د خپل وطن ګټې څومره په خپل لاس لږوو ، که

ووایو چې د بهرنیو هیوادو د تجارت ګټه تر زیاته حده د همدې اوبدلو او ګنډلو له لارې ده سم به مو ویلي وي . د دې فن له زده کولو څخه دوې ګټې ترلاسه کیږي یو دا چې اوبدونکي د دولت په عمومي تجارت کې لاس کوې او په لوی لاس خپلې پیسې په اوبو کې نه اچوي او بل دا چې خپل ځان او خپله کورنۍ د دې څیزونو د اخیستلو په برخه کې د زیاتو پیسو له لګولو نه ژغوري یعنې کولای شي یو دسماغو (دستکش) چې له بازار نه په پنځه روپۍ اخیستل کیږي په خپله د دوو روپیو په لګښت او په لږ زیار واوبي ، همدا راز هغه کمیس چې درزي ته د پنځلس ، شلو روپیو په مزدورۍ ګنډلو ته ورکړي په خپله یې په یو دوو ورځو کې ګنډلی شي او هغه پیسې دې د خپل کورني تجارت د پانګې په توګه ولري . نو کومه ښځه چې په دې فن کې مهارت ومومي او د خپل معاش ذریعه یې وګرځوي د خپل انسانیت فریضه یې د وطن په وړاندې ترسره کړې او د نورو نړۍ ترښځو نه د خپل هیواد د ترقۍ د وسایلو په برابرولو کی وروسته نه ده ...». (۲۲)

یوې بلې زده کوونکې د حساب د علم په باب وینا وکړه ، ښځو ته یې د حساب د زده کړې د ضرورت په اړه وویل : « ... درنو میرمنو ! پام وکړئ یوه ښځه چې د حساب د علم له مبادیو څخه بې خبره وي څنګه به د خپل کورني ژوند نظم ټینګ کړای شي ؟ څنګه به پوهیدای شي چې مثلاً یونیم چارك وریژې په یوه روپۍ وي ، دا به خپل نوکر ته د یو من وریژو لپاره څو روپۍ ورکوي او څنګه به وکړای شي خپل میاشتنی عاید له خپل میاشتني لګښت سره تطبیق کړي خپله ګټه یا ضرر ځان ته معلوم کړي ؟ او څنګه د حساب د علم له زده کړې څخه پرته ممکنه ده د خپل ورځني لګښت ټول نقد او جنس جمع او په خپله کتابچه کې له ځانه سره ولري او هروخت چې وغواړي په خپل دخل او

خرڅ ځان پوه کړي ... » . (۲۳)

په دې پسې يوې بلې زده کوونکې د خپلې ژبې او ورسره د يوې بلې ژبې د زده کړې په باب معلومات ورکړل او د اردو ژبه يې چې په يوه کال کې زده کړې وه معرفي کړه او څو خبرې يې هم پرې وکړې ، دې وويل : « ومن اٰيٰتِهٖ خلق السموت والارض واختلاف الوانكم والسنتكم » ، «دلوی خدای له نخښنو نه يو هم د آسمانونو او زمکې جوړښت او د رنگونو او ژبو اختلاف دی » چې البته عالمانو ته په دې کې نخښنې دي ، د لوی خدای د قدرت نخښنې ترهغې سړي ته نه معلوميږي څو چې انسان د ژبو په اختلاف ونه پوهيږي نو ځکه يې په نارينه او ښځينه سنوونځيو کې دا دود ټاکلی چې پرخپله ژبه سربيره يوه بله ژبه هم زده کړي .» .

او بيا يې د اردو په باب وويل :"لومړی اردو د هندوستان د مسلمانانو ژبه ده ، هغوی پر گاونډيتوب سربيره زموږ ديني ورونه هم دي ، دوهم په اردو کې په زرهاوو گټور ديني او دنيوي کتابونه نارينه وو ته بيل او ښځو ته بيل چاپ شوي او په سلگونو اخبارونه چې په هغې کې د ښځو لپاره هم ډير اخبارونه شته ، تل خپريږي . دريم حج پر نارينه او ښځه دواړو فرض دي د هند له لارې نه په تلو سره ادا کيږي او په دې سفر کې د اردو زده کړه گټوره ده ، څلورم تر ټولو پرديو ژبو نه اردو اسانه ژبه ده ځکه په زيات شمير عربي او فارسي لغتونه چې زموږ زده دي پکې ويل کيږي او بيا يې د يوه اردو مطلب تر اوږدولو وروسته څرگنده کړه چې تر نيمايي زيات الفاظ يې فارسي او زموږ زده دي »(۲٤)

د مستوراتو د ښوونځي د زده کوونکو د دې تقريرونو په پای کې چې د ښوونځي د يو کلن کار څو کلنه نتيجه يې څرگندوله گټو زده

کوونکو په سبکلي غږ دا ترانه واوروله :

ما طلبگار فیض وعلم وفنیم

دختران گزیدهء وطنیم

جهد ما هست دانش آموزی

که وطن را دهیم فیروزی

سعی ما آن بود که در همه حال

تار وسوزن کنیم بهر کمال

هر چه باشد فضایل اندوزیم

بهر خود جامهء شرف دوزیم

شاه ما کرده است تأسیسات

مکتب با حجاب مستورات

تا از این مکتب حجاب حصول

شود از بهر ما هنر محصول

شاه مان از تلطف پدری

سوی عرفان نموده راهبری

یا رب این شاه بنده پرور را

خسرو غازی دلاور را

بـر سریـر شهی به استقلال

دارش ایمن زحادثات زوال (۲۵)

تر دې وروسته زده کوونکو ته د انعامونو وروېشلو مراسم پيل شول ، د ښوونځي منشيې د لست له مخې نومونه لوستل او محترمې عليا حضرت (د امان الله خان مور) په خپل لاس انعامونه ورکول . (۲٦)

هغه زده کوونکې چې انعامونه پرې وویشل شول نومونه يې دا دي :

شمیر	نوم	د ټولګي نوم	د لیاقت درجه
۱ -	کبرا بیګم	دوهم ټولګی ، الف	لومړۍ درجه
۲ -	حبیبه بیګم	دوهم ټولګی ، الف	دوهمه درجه
۳ -	رابعه بیګم	دوهم ټولګی ، الف	دریمه درجه
٤ -	خاور بیګم	دوهم ټولګی ، ب	لومړۍ درجه
٥ -	ګوهر بیګم	دوهم ټولګی ، ب	دوهمه درجه
٦ -	نورجهان بیګم	دوهم ټولګی ، ب	دریمه درجه
۷ -	بی نظیر بیګم	دوهم ټولګی ، ت	لومړۍ درجه
۸ -	رابعه بیګم	دوهم ټولګی ، ت	دوهمه درجه
۹ -	شیرین تاج بیګم	دوهم ټولګی ، ت	دریمه درجه
۱۰ -	حمیده بیګم	لومړی ټولګی ، الف	لومړۍ درجه
۱۱ -	عزیزه بیګم	لومړی ټولګی ، الف	دوهمه درجه
۱۲ -	عالیه بیګم	لومړی ټولګی ، الف	دریمه درجه
۱۳ -	مملکت بیګم	لومړی ټولګی ، ب	لومړۍ درجه
۱٤ -	طاهره بیګم	لومړی ټولګی ، ب	دوهمه درجه
۱٥ -	مریم بیګم	لومړی ټولګی ، ب	دریمه درجه
۱٦ -	راحت بیګم	لومړی ټولګی ، ت	لومړۍ درجه
۱۷ -	زیده بیګم	لومړی ټولګی ، ت	دوهمه درجه
۱۸ -	فضیلت بیګم	لومړی ټولګی ، ت	دریمه درجه
۱۹ -	سلیمه بیګم	لومړی ټولګی ، ث	لومړۍ درجه
۲۰ -	حمیده بیګم	لومړی ټولګی ، ث	دوهمه درجه
۲۱ -	حبیبه بیګم	لومړی ټولګی ، ث	دریمه درجه
۲۲ -	مستوره بیګم	لومړی ټولګی ، د	لومړۍ درجه

۲۳ - عذرا بیگم لومړی ټولګی ، دوهمه درجه

۲٤ - فاطمه بیگم لومړی ټولګی ، دریمه درجه

دې غونډې ته د وخت د پوهنې وزیر خپل اووه کلن زوی غلام محمد جان رالیږلی ؤ چې د دې غونډې په مناسبت یې یوه یاده کړې وینا وکړه او هم یې د کرنې د وزیر وړکې زوی محمد حسین خان رالیږلی و چې د ده پیغام یې ولوست او د پوهنې لومړی او دوهمه درجه نښانونه یې چې د ښوونځې د مفتشې او مدیرې لپاره رالیږلې وو د علیا حضرتې مخې ته کښیښودل ، علیا حضرته (سراج الخواتین) پاڅیده او مفتشه صاحبه (ملکه ثریا) یې ځان ته راوغوښته د پوهنې لومړۍ درجه نښان یې په سینه وروځړومبه او د خپلې وینا په ترځ کې یې ویل :

«نن د ډیرې خوښۍ ځای دی چې خپل ګران هیواد د پرمختګ پر لاره روان وینم ، زما ګران زوی اعلیحضرت امان الله خان شپه او ورځ زیار باسي او نن زه په ډیر ویاړ د ده د هڅو یوه نمونه په دې غونډه کې وینم ، او د لوی خدای بی شمیره شکرونه کوم ، د مستوراتو د ښوونځي لا یو کال نه دی پوره شوی د هیواد لوڼې چې په الف ، ب نه پوهیدې په یوه کال کې داسې درجې ته ورسیدلې چې جغرافیې غوندې علمونو چی میندو یې تراوسه نوم هم نه دی اوریدلی خبرې کوي . له لوی خدای نه په ډیره عاجزۍ غواړم چې دا بختورې ورځې نورې نه کړي او زما د سترګو تور امان الله دې په خپل حفظ او امان کې وساتي ، د هیواد او ملت د خدمت لپاره دې صحت او قوت ورکړي څو د افغانستان ښځې او نارینه او د افغانستان هیواد د ده د همت او خدمت نه ترقي او نیکمرغي ومومي .»(۲۸) .

بیا عمومي مفتشې (ملکې ثریا) د مننې وینا وکړه :

«د گران هیواد تنکیو نیالگیو !

زما ماته ژبه د هغه ځه له ویلو نه چې زړه مې یې غواړي ناتوانه ده ، درانه پاچا دا خپله ماندینه د علم په لوی خدمت ولمانځله ، له کومه وخته چې د سنځینه سنوونځیو په تفتیش ټاکل شوی یم د نیکمرغۍ لوړې پوړۍ ته رسیدلی یم چې دا زما تر لیاقت ډیر لوړ دي .

نن چې زه د خپل پاچا د درنې مور ، د خپلې کورنۍ د درنو بیبیانو ، تاسو زړه ته راتیرو بچیانو او ستاسو د درنو میندو په وړاندې ولاړه یم او له صداقته ډکه سینه مې د پوهې په لوړي نښان سنګلې کیږي زما د زړه د خوښۍ توپونه ټولې هغه مننې او دعاګانې دي چې د لوی خدای د مهربانۍ ، د پاچا د لورینې او د پوهنې د وزارت د پیرزوینې په اړه دي .

دا لوی نعمت ستاسو د ګران هیواد لوڼو د سعې او کوښښ او د سنوونځي د مؤظفینو او سنوونکو د هغو هڅو او هاندونو برکت دی چې زه یې د مننې له یادولو څخه عاجزه یم ، نوځکه د دوی د سنو خدمتونو په بدل کې د اعلیحضرت د حکم او د پوهنې وزارت د تصویب له مخې د خپلې مور په له اخلاصه ډکه سینه چې د دې سنوونځي د مدیریت په چارو کې یې ډیر هاند او هڅه کړې ، د پوهنې دوهمه درجه نښان ورتومبم چې د ټولو لپاره د علمي هڅونې سبب شي او هم مو د پوهنې وزارت په مننه د سنوونځي د مؤظفینو او سنوونکو په معاشونو کې زیاتون راووست چې دوی ته سهولت پیدا کړي». او بیا یې د خپلې مور پر سینه د پوهنې دوهمه درجه نښان وټومبه . (۲۹)

بیا محترمې مدیرې په خپله امتنانیه وینا کې وویل :

« ... تاسو ته بهتره معلومه ده چې ټول هغه کارونه چې نه وي او له نوي سره رامنځ ته شي د څرخ څرخول یې ډیر مشکل دي خو څرنګه چې

په عربي کې یو متل دی چې : « همت الرجال تقلع الجبال » نو همدا وو چې زموږ د زړور پاچا همت او د پوهنې وزارت ګرندیو اقداماتو او د محترمې مفتشې صاحبې نازولو او احساساتو دا زه کم علمه عاجزه د ښوونځي په اداره کې د میږي په پله تر دې ځایه بریالی کړم او دا هم زما د ګرانو نایبې او منشیې د هڅو له امله دي چې زما په شته والي او نشتوالي کې یې له ما سره مرسته کړې ده او د خپل هیواد له درنو ښوونکو خصوصاً له هغو ښوونکو څخه چې په اصل کې افغانې دي او په هند کې اوسیدلې او له محترمو هندي مهاجرو ښوونکو او له خپلو مبصرینو څخه چې د خپلو وظیفو په ترسره کولو کې یې په دې لږ وخت کې ډیر کار کړی ، د زړه له کومې مننه کوم .» (۳۰)

په دې پسې له هندي معلماتو څخه د پوهنې د مدیر محمد حسین خور یوه ګټوره وینا وکړه او د ښځو د علم په ارزښت وغږیده ، د ښوونځي د فارسي مضمون ښوونکې خپل احساسات څرګند کړل ، بیا د ښوونځي نایبې د معاشونو د زیاتوالي په مننه کې وینا وکړه ، ورپسې د سردار صنایع مور د نښانونو د ورکړې په باب وینا وکړه ، په دې پسې د ښوونځي د نجونو له مینډو څخه یوې مور د ټولو په نماینده ګۍ امتنانیه وینا وکړه او په پای کې یوې بلې مور هم خپل احساسات څرګند کړل ، د غرمې د ډوډۍ او د چای تر خوړلو وروسته د ښوونځي ټولې نجونې د احترام په توګه لیکه لیکه ودریدې او د زنده باد د شعارونو په ورکولو سره دا غونډه پای ته ورسیده (۳۱) او په دې توګه په هیواد کې د ښځو د زده کړو آغاز وشو او هغه نجونې چې یو کال وړاندې یې د « آمین » تر ویلو پرته نور څه یاد نه وو اوس دومره لایقې شوې وې چې د بیلا بیلو علومو په ارزښت یې تقریرونه وکړل او په یوه کال کې یې د یوه عمر مزل وواهه .

ارشاد النسوان د مستوراتو د ښوونځي خپرونه :

په افغانستان کې د معارف د ودې په مرحله کې یوازې په پروګرام شویو درسونو اکتفا نه کیدله ، بلکه د ځوانو استعدادونو د ودې او غوړیدنې لپاره تفریحي پروګرامونه ، غونډې او کنفرانسونه ، مباحثې او مقابلې هم په درسي مرکزونو کې کیدې او هم مهمو ښوونځیو موقوتې خپرونې درلودې چې د دې تعلیمي مرکز د مسؤولینو او استادانو ترنظر لاندې به شاګردانو لیکنې پکې کولې ، د دوی نظریات د ښوونځي د غونډو او مباحثو رپوټونه به پکې نشریدل .

په دې سلسله کې د حبیبیې لیسې د « معرف معارف » په نامه میاشتنۍ مجله خپروله چې لومړۍ ګنه یې د ۱۲۹۸ هـ ش کال د ورې په لومړۍ نیټه او وروستۍ ګنه یې د ۱۳۰۲ کال په ورې کی خپره شوه (۳۲) همدا راز د مستوراتو ښوونځي هم ترجوړیدو دوه میاشتې وروسته د ۱۲۹۹ کال په کب (د ۱۹۲۱ مارچ) کې د ارشاد النسوان په نامه یوه اووه ورځنۍ جریده خپره کړه . (۳۳)

د ارشاد النسوان د اووه ورځنۍ جریدې چلوونکې د مستوراتو د ښوونځي مدیره محترمه اسمارسمیه د محمود طرزي میرمن وه چې په بي بي عربې مشهوره وه او سرمحرره یې محترمه روح افزا د دې ښوونځي منشیه وه چې د جریدې د پاسه د دواړو نومونه د « ا – ر » او « ر – ا » په مخففو تورو لیکل کیدل ، د جریدې اداره د کابل په ګردان سرای یعنې همهلته د مستوراتو په ښوونځي کې وه ، په دې جریده لیکل شوي چې په اوونۍ کې یوځل خپریږي خو پرله پسې ګڼې یې ښیي چې منظمه اوونۍ په اوونۍ نه خپریده او حتی میاشتې پرې تیریدلې ، لکه ۱۵ ګنه یې چې د ۱۳۰۰ کال د چونګاښ په دوهمه

نیټه او ۱٦ گڼه یې د همدې کال د وري په ۲۳ نیټه خپره شوې ده چې دوی میاشتې او ۲۲ ورځې فاصله لري . (۳٤).

ارشاد النسوان یوه اختصاصي خپرونه وه چې په خپلو مقالو ، خبرونو ، گزارشونو او مبحثونو کې یې د ښځو د نړۍ په اړه مطالب خپرول او د مستوراتو د ښوونځي پیښې یې منعکسولې ، په دې جریده کې د « سلسلهٔ واقعات عصر امانیه » ترعنوان لاندې د رسمي نظامنامو او اطلاعیو متنونه هم خپریدل او هم کوښښ کیده چې داسې مطالب خپاره کړي چې د زده کوونکو معلومات پراخه کړي او د درسي مرستیال کار ورکړي . ارشاد النسوان جریدې د ښځو له نړۍ سره د مطالبو د ځانګړیتوب روحیه تر ډیره حده ساتلې چې دلته یې لنډې نمونې ورکوو :

د ارشاد النسوان د کورنیو خبرونو په لړ کې یو هم د نوروز د میلې خبر دی چې د بابرشاه په باغ کې به کیدله خو ډیره په زړه پورې دا ده چې همدا د نوروز له میلې سره اړوند خبر هم د ښځو له نړۍ سره اړه لري ، په دې ډول چې لومړی د دې ورځې د ننداړلو په باب خبرې شوې او وروسته لیکي :

« د هفه اعلان له مخې چې یوه ورځ پخوا شوی ؤ د کابل ښار ټولې ښځې د سهار له شپږو بجو نه ډله - ډله د بابرشاه باغ ته چې زموږ د ښار یو تاریخي باغ دی راتللې او باغ یې چې د پسرلي ښکلوونکي باد د شکوفې په گلونو او نازکو شنیلیو ښکلې کړی او پسوللی ؤ ، ډک کړ ، د لوی باغ څلور گونو دیوالونو ته دوکانونه او هر راز ښځینه بازارونه جوړ شوي وو چې هم یې خرڅوونکې او هم اخیستونکې ښځې وې » . ورپسې په گزارش کې د رسمي مقاماتو او د مستوراتو د ښوونځي د زده کوونکو راتگ ، د سات تیرۍ د وسایلو

ACKU
60

د خوراك ، څښاك ، د ښځو د ساز او سرود اونورو ليدنو په باب مطالب وړاندې شوي او په پای کې ليکي : « دا ميله د مازيگر تر ځلورو بجو روانه وه بيا پای ته ورسيده او افغاني پاك لمنې ميرمنې په يو جهان خوښۍ او د خپل پاچا چې د دوی حامي دی د عمر د ډيروالي په دعا خپلو کورونو ته ستنې شوې . (۳۵) .

د ارشاد النسوان په ۱۶ گڼه کې د « يك تجوز وچيز در خدمت قرآن حكيم عزيز » ترسرليك لاندې يو گزارش خپور شوی چې په هندوستان کې د قرآن کريم د چاپ شويو درسي پارو د چاپي غلطيو په باب معلومات وړاندې کوي نو تر يوه تمهيد وروسته موضوع په لاندې ډول د ښځو له نړۍ سره مربوطوي :

« يوه ښوونکې : زده کوونکې ته وايي : « وما بضارين » ووايه !

بله ښوونکې : نه نه « وماهم بضارين » ووايه !

په دې خبره باندې د دواړو ښوونکو خبرې اوږدې شوې دې عاجزې مديرې ته راغلې ، د هرې يوې ښوونکې سند هغه چاپي پارې وې چې په لاس کې يې وې ، پارې مې واخيستې ومې لوستې هغه پاره چې د لاهور په نولکشور کې چاپ شوې وه « وماهم بضارين » پکې ليکلي وو ، په تشويش کې شوم نورې چاپ شوې پارې چې د زده کوونکو په لاسونو کې وې راغونډې کړې ، تر کتنې او څيړنې وروسته معلومه شوه چې د لاهور د ستيم پريس په چاپ شوې پاره کې تقريباً ۱۸۰ غلطۍ د چهجو سنگهه په فرمايش چاپ شوې پاره کې ۸۰ ځايه غلطۍ، د لاهور د راجپوت پرنتنگ په خپره شوې پاره کې ۳۸ غلطۍ وليدلې شوې ....»

بيا وروسته ليکي:«نو له دې سببه تجويز ونيول شو چې درسي پارې په خپله سمې چاپ کړو او سر له دې گڼې څخه موږ د هغه چا چې په دې لاره کې مرستې ته حاضر وي نومونه او د مرستې اندازه خپروو».د دې

گزارش په وروستۍ برخه کې د همدې کار لپاره د لومړی مرستې ورکوونکو د نومونو لست هم خپور شوی چې په لومړي قلم کې یې د وخت د پاچا پنځه زره افغانۍ ، د مستوراتو د زده کوونکو درې زره افغانۍ ، د خارجه چارو د وزیر محمود طرزي یو زر افغانۍ ، د ارشاد-النسوان د مدیرې دوه سوه افغانۍ او د یو شمیر نورو کسانو حتی تر یوې افغانۍ پورې اعانه هم درج شوې دي . (٣٦) .

ارشاد النسوان خپل بهرني خبرونه هم تر ډیره حده د ښځو له نړۍ سره د اړوندتوب په روحیه رااخیستي مثلاً په یوه گڼه کې د عثماني دولت د پوهنې د وزیرې په حیث د خالدې په نامه د یوې ښځې د ټاکل کیدو خبر دی . (٣٧) په پنځلسمه گڼه کې یې د یوې ترکې میرمنې عایشې د میړانې خبر خپور کړی چې د خپل زوی او زوم تر مړینې وروسته پر فی سبیل الله جهاد ورگډه شوې او د ترکیې د میرمنو د لښکرو قومانده یې په لاس کې اخیستې ده او د خپل هیواد او ملت د ناموس ساتلو لپاره رامیدان ته شوې دي ، دې د یونان د یوه مشر میرمنې ته په یوه لیك کې لیکلي چې د ترکیې نارینه څه چې ان ښځې د اسلام د ناموس خوندي کولو لپاره چمتو دي . (٣٨) په همدې گڼه کې یې د یوې هندي رقاصې طوطی بیگم د همت خبر خپور کړی چې درې زره روپۍ یې د هندوانو سوراج او درې زره روپۍ یې د مسلمانانو غورځنگ ته ورکړې دي . (٣٩)

د نړۍ نامتو میرمنې د ارشاد النسوان یو بل دایمي سرلیك دی چې په دایرة المعارفي ډول د الفبې په ترتیب د نړۍ نامتو میرمنې معرفي کوي ، په ١٥ او ١٦ گڼو کې یې دوی تنې د « ام اناس » او دوی نورې د « ام انوك او ام ایمن » په نومونو معرفي کړې دي . (٤٠)

د ارشاد النسوان د « ادبیات » برخه هم معمولاً یا د ښځو په باب

ويل شوي اجتماعي شعرونه دي او يا د ښځو له خوا ويل شوي شعرونه ، لکه په ۱۳ گنه کې چې ليکي :

دختر پـــاك پاکبازی کن چـــادر خويشتن نمازی کن

پاکبازی به عفت وناموس به کف آيد ترا مشو مايوس (٤١)

يا په ١٦ گنه کې د وخت د پاچا په ستاينه کې يو شعر دی چې په مقطع کې يې د « ت ، ج » په مخفف خپل نوم راوړی او ښکاري کومه ميرمنه ده چې د وخت د ضرورت په بناء يې خپل نوم لکه د جريدې د چلوونکو غوندې ملفوف کړی د شعر مطلع ده :

اشاعت ادبيات ابرنيسانست

که از ترشح فيضش وطن گلستان است

او مقطع يې ده :

چنين شهنشه عادل نيامده (ت و ج)

محقق است که فضل رحيم ورحمان است (٤٢)

په دې توگه ارشاد النسوان د ښځو د نړۍ د خاصو مطالبو خپرولو ته ملا تړلې وه چې په دې برخه کې د مرکو ، اخلاقو ، پخلي ، گنډلو ماشوم روزلو ، کورنيو چارو ، راشې درشې او نورو يادونه کولای شو . کوم سرليکونه چې په دې برخه کې د ارشاد النسوان په ۱۱ گنه کې مومو ، دا دي : « خوبهای خوب زنان » ، « حکايت دخترك قاروك » ، « حسن و جمال » ، « کارهای خانگی » او « نخها و سوزنها » . د «خوبهای خوب زنان» ترسرليك لاندې مطالبو له خپرولو نه هدف لکه څنگه چې په نوموړي اخبار کې ليکل شوي هماغه د وړو نجونو خصوصاً د مستوراتو د زده کوونکو اخلاقي روزنه وه ، د « حسن او جمال » ترعنوان لاندې د ظاهري او باطني ښکلا پر موضوع خبرې شوې ، ظاهري ښکلا ستايله شوې خو بې له باطني ښکلا (ښې رويې اوښو

اخلاقو) څخه بې ارزښته بلله شوې او په همدې ډول خپلې خبرې پسې غځوي او ليکي : « اى د گران وطن پاکو نجونو ! موږ د ښځو بې چاره طايفه ټوله په ساختگى ښکلا يعنې د رنگ او روغن په استعمالولو اخته يو او د تجربې له مخې عرض درته کوم چې همدا سرخي او سپيدې ... چې له بهر نه زموږ هيواد ته راځي او په بدل کې يې زموږ پيسې او پسانگه رانه وړي ... تـر زيان او ضرر پرته بله هيڅ گټه نه لري » . او په پاى کې ليکي : « بايد د خپلو خداى ورکړو ښيرو خلقت پوست ... په داسې رنگونو او زيانمنو بويونو خراب نه کړي » . د کار خانگي ترسرليک لاندې د خياطۍ او د هغې د گټو په باب خبرې شوې او زياته شوې ده چې : « د سرو لپاره قلم او توره د زينت او فضيلت اسباب گڼل کيږي او د ښځو د طايفې لپاره ستن او تار » . او بيا د گنډلو د ډولونو نومونه اخيستل شوي دي . په همدې ډول د «نخها و سوزنها» ترعنوان لاندې د تار او ستنو د ډولونو په باب معلومات وړاندې شوي او سربيره پر دې د تارونو او ستنو د استعمال په باب پوره تفصيلات ورکړل شوي دي . (٤٣)

د ارشاد النسوان قطع په اوله کې ١٠ X ١٥ انچه وه او هر مخ يې درې ستونونه درلودل خو له يوولسمې گڼې نه وروسته يې کچه ١٠ X ٩ انچو ته راټيټه او د مخونو شمير يې ٨ شو ، دا جريده په ډبرين چاپ خپريده ، کاغذ يې نرى او پسته يې رنگ يې درلود ، سرليکونه يې په روښانه او لوى نستعليق خط ليکل کيدل . (٤٤)

د ارشاد النسوان په هغه اعلان کې چې د ادارې له خوا په يوه مخيزه پاڼه کې د ژيړ بخون کاغذ د پاسه خپور شوى ، د ارشاد النسوان د معرفۍ په برخه کې ځينې خبرې شوې چې دلته يې رااخلو : د ارشاد-النسوان جريده يوه عاجزانه جريده ده چې په اوونۍ کې يوځل د سترگو

مخې ته وړاندې کیږي ، له هر ډول کورنیو او باندنیو حالاتو نه خبرې کوي او فني مقالې وړاندې کوي او په عام ډول داسې مقالې چې د ګران هیواد د میرمنو لپاره ګټورې وي د ګرانو وروڼو او خویندو لوستونکو مخې ته ږدي . او دا هم خپلو نارینه او ښځینه لوستونکو ته وعده ورکوي چې د ارشاد النسوان جریده به په خپل ټاکلي وخت خپلو ګډون کوونکو ته ځان رسوي او نیکمرغه لاسونه به یې ښکلوي . چې وروسته یې په دې پاڼه کې د ګډون بیه ، شرایط او پته ښودل شوي او په پای کې یې په سره رنګ د مدیرې لاسلیك دی چې دلته یې هم لکه د جریدې په سر لوحه کې خپل نوم په مخفف ډول (ا - ر) لاسلیك کړی دی . (٤٥) .

په افغانستان کې د ارشاد النسوان د ګډون کالنۍ بیه پنځه کابلۍ روپۍ ، له هیواد نه بهر اووه کابلۍ روپۍ او د یوې ګڼې بیه اووه پیسې وه . (٤٦) .

د مستوراتو ښوونځي دوام درلود او پرمختیایي پراوونه یې وهل خو د ارشاد النسوان جریده ډیر وخت نشر نه شوه ، مرحوم جویا لیکي چې ښایی دې جریدې پنځه شپږ میاشتې نشرات کړي وي او هم آریانا دایرة المعارف په قطعي توګه لیکي چې ارشاد النسوان شپږ میاشتې نشرات کړي دي خو د امان افغان له هغه اعلان څخه چې د خپل دوهم نشراتي کال په موده کې یې د پښتنې په څلورم مخ کې د افغانستان د جریدو په باب خپراوه ، ښکاري چې د دې جریدې خپریدلو له یوه کال نه زیات دوام کړی دی ځکه چې د امان افغان د دوهم کال په ٤٢ ګڼه کې چې د ١٣٠١ کال د سرطان په ٢٤ نیټه خپره شوه لا هم د ارشاد النسوان د اشتراك اعلان شته خو د دې کال په ٤٤ ګڼه کې چې د اسد په ٢٤ خپره شوې د ارشاد النسوان نوم ایستل شوی او نور جرایده په

ځای دي . (٤٧)

د ارشاد النسوان په ګڼو کې د کومې مطبعې نوم چې پکې خپریدله ، نه دی ښودل شوی خو د « زیور زنان » د رسالې (٤٨) له دې جملې څخه : « در مطبعهٔ ارشاد النسوان طبع شد » ښکاري چې ښايي ارشاد النسوان به ځانګړې مطبعه درلوده او همهلته د مستوراتو د ښوونځي دننه به خپریدله او په دې توګه دا جریده د مستوراتو د ښوونځي نشراتي اورګان ؤ چې د درس ترڅنګ يې د ښځونو د تنویر او ذهني ودې دنده ترسره کوله .

د ښځونو له زده کړو سره مخالفت :

د ۱۳۰۳ (۱۹۲٤) کال په چونګانړ کې حکومت د خپلو کورنیو او بهرنیو چارو د تایید لپاره کابل ته د هیواد د مخورو او سپین ږیرو لویه جرګه راوبلله ، په دې جرګه کې ۱۰٤٦ تنو برخه درلوده چې د چونګانړ له ۲۰ نه د زمري تر ۹ پورې يې په پغمان کې د وخت د پاچا اعلیحضرت امان الله خان په مشرۍ غونډې وکړې ، له بهرنیو هیوادو سره شوې معاهدې يې تربحث لاندې ونیولې او د هیواد په اساسي او نورو اختصاصي نظامنامو يې خبرې وکړې او تعدیلات يې پکې راوستل . (٤٩) دې لويې جرګې د زمري په پنځمه نیټه د ښځونو په زده کړو هم خبرې وکړې او د جرګې علماوو ، ساداتو او مشايخو د یوې عریضې په ترڅ کې له اعلیحضرت نه وغوښتل :

«څرنګه چې همايوني اعلیحضرت د خپل ملت او دولت د هوسايۍ لپاره زياتې هڅې کوي چې حتی د خپلو خاصو پاملرنو په ترڅ کې يې د مستوراتو ښوونځی هم جوړ کړی ... خو د منل شويو مسألو او د فقهې شريفې د مفتي به‌روایاتو له مخې ښايي چې ښځې په خپلو

کوروونو کې له خپلو خپلوانو او محارمو نه زده کړه وکړي څو له هغو دیني تعلیماتو نه چې زموږ په اسلامي ملت فرض دي بې برخې نه شي نوځکه له خپل اولی الامر نه هیله کوو چې نجونو ته دې په ښوونځیو کې درس نه ورکول کیږي څو د حجاب او ستر مسأله چې د مسلمانو ښځو لپاره یو ضروري فرض دي په ښه توګه ترسره شي هغه شرعي معلومات چې په دې برخه کې د دین له دې خادمانو سره وو عرض شول نو که د دوی لوړ حضور زموږ په دې لیکنه ډاډمن وي ښه او که نه د نورو بهرنیو اسلامي هیوادونو له عالمانو دې زیات معلومات او موثقې فتواګانی ترلاسه کړي .»(۵۰) .

اعلیحضرت د دوی د خبرو په اړه یوه اوږده وینا وکړه چې لنډیز یې دا دی :

«که څه هم د ښځو د زده کړو په باب زموږ خبرې اترې پخوا سرته رسیدلې وې او ما ستاسو خبره په دې برخه کې منلې وه ، خو بیا هم غواړم چې ستاسو د ملت علماوو او فضلاوو پام دې مهم ټکي ته راواړوم چې په دې برخه کې موږ او تاسو باید له عقل او فکر او د ټولې اسلامي نړۍ له کړو څخه کار واخلو او تر دې زیات ونه غواړو چې زموږ ښځینه قشر د ناپوهې ، نادانۍ او جهالت په غیږه کې ژوند وکړي ، د ښځو زده کړه ترحد زیاته ضروري ده او موږ او تاسو ته نه ښایي چې د دې حدیث شریف : « طلب العلم فریضةٌ علی کل مسلم ومسلمةٍ » په مخالفت کې واقع شو او نه ښايي ووایو چې موږ افغانان یو نو زموږ ښځې باید د خدای او رسول (ص) او مبدأ او معاد له لارې نه بې خبره پاتې شي او په یو عالم جهالت او ناپوهۍ کې واوسي ، موږ باید پرخپلو هغو ماشومانو چې تقریباً تراته کلنۍ پورې د خپلې مور ، خور ترور او نورو ښځینه خپلوانو ترڅنګ خپل لومړنی ګټور ژوند تیروي ،

رحم وکړو او یوازې د همدې ماشومانو د ښوونې او روزنې لپاره چې په دې لومړني ښوونځي کې چې « د مور د غیږې ښوونځی » دی هغوی په ضروري مسألو خبرې کړي او خپل ماشومان له دې عمومي فیض نه محروم نه کړو . پر مور او تاسو لازم دي چې خپله ښځینه طبقه پر فرضو ، واجباتو ، سنتو او نورو ضروریاتو پوه کړو ځو زموږ ماشومان په هماغه صغارت کې چې زده کړه یې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم « کالنقش فی الحجر » بللې له ښو اخلاقو او عاداتو نه برخمن شي او په ښو آدابو او صفاتو وپسولل شي ، زه هیڅ کله د دې پلوي نه یم چې هغه نجونې چې مراهقې ته نژدې وي ښوونځي ته راشي او زده کړه وکړي ، بلکه زما نظریه د هغو لویو اهدافو لپاره چې برباد شول ، دا ده چې ورې ماشومانې د ستر او پردې له ټولو مراعاتو سره په داسې ښوونځی کې چې بیخي محفوظ او مستور دي او ښوونکې یې هم ښځې دي ، درس ووایي اوس چې تاسو علماء وایئ چې د ورو نجونو تلل هم د تعلیم لپاره ور نه دي د اوس لپاره موږ یوازې د شرعي شریفې د مراعات په خاطر متفق یو خو فکر نه کوم چې د اسلامي نړۍ نور علماء او د هند ، سنده ، مصر ، مکې معظمې ، مدینې منورې ، شام ، بیت المقدس ، بغداد ، بصرې ، کوفې ، ترکیې فاضلان په دې نظریه کې له تاسو سره یو وي ځکه په دې هر یوه لوی اسلامي هیواد کې په ګڼ شمیر کې د نجونو ښوونځي موجود دي .»(٥١).

په مجلس کې یوځل بیا د نجونو د زده کړو په تأیید او تردید کې بحثونه راپورته شول خو اعلیحضرت د موضوع د غوځولو لپاره وویل :

« دا بحث لکه چې ومو ویل فیصله شوی دی زه اوس په خپله د همدې محترمانو د مفکورې له مخې په کورونو کې د نجونو د زده کړو امر ورکوم ... زه غواړم چې په دې ترځ کې دا محترم علماء یوې بلې

موضوع ته راوښولم او هغه دا ده چې دا محترمان چې زموږ د ورو لونو د په کور کښېنولو دعوې کوي او موږ يې يوازې د شرعي په امر چې دوی يې راته يادوي منو نو دوی بايد په کليو او اطراف کې پر نجونو ، ښځو ، کوچيانو او د افغانستان پر ټولو اوسيدونکو ميرمنو د تبليغ او وعظ په ذريعه ستر او حجاب لازمي کړي او تر راتلونکې لويې جرگې پورې په ټول افغانستان کې هغه ستر او حجاب چې سپيڅلي شريعت د مسلمانو ميرمنو لپاره ټاکلی دی ، عملي کړي او که په دې برخه کې له حکومت نه اجازه او تسهيلات وغواړي ، نه سپمول کيږي خو که تر راتلونکې لويې جرگې پورې په ټولو خلکو کې حجاب او ستر رواج نه شو او يا له دې ښځو نه يوه هم لوڅ مخې وليدله شوه ، نو له ناغې سره به بې د مسووليت بار ستاسو په غاړه وي .»(۵۲)،

له دې وعدې ، خبرو او مباحثو سره سره د نجونو زده کړو دوام وکړ او د نجونو ښوونځيو پرمختيايي گامونه واخيستل .

د نجونو د زده کړو پرمختيايي گامونه :

د مستوراتو ښوونځي د خپلې زمانې ودې په ترڅ کې تر ۱۹۲۸ کال پورې پر پنځو لومړنيو ټولگيو درې رشدي ټولگي هم درلودل او د زده کوونکو شميره يې سلگونو نجونو ته ورسيده ، تر ۱۹۲۷ کال پورې يې ښوونکي يوازې ښځې وې خو تر دې وروسته د نجونو د شمير د زياتوالي او د ټولگيو د گڼوالي له امله ځينې سپين ږيري روزل شوي نارينه هم پکې ښوونکي وټاکل شول ، له همدې کال نه د بهرنيو ژبو زده کړه هم د نجونو د زده کړو په پروگرام کې ځای شوه ، دا وخت د نجونو لومړني ښوونځي درې او رشدي يو باب وو ، د ۱۹۲۸ کال په پسرلي کې د دې ښوونځي ماشومې نجونې چې د لومړي او دوهم

ټولګي ور وي د استقلال ښوونځي په لومړي او دوهم ټولګي کې شاملې شوې او د لومړي ځل لپاره په هیواد کې د نجونو او هلکانو ګډه زده کړه پیل شوه ، په همدې کال کې د نجونو د ښوونځي زده کړې د څلورمې رشدیې پوړۍ ته لوړې شوې . (٥٣).

خارج ته د نجونو لیږل :

امان الله خان چې په ۱۹۲۸ کال کې د خارج له شپږ میاشتني سفر نه وروسته هیواد ته راستون شو (٥٤) نو د هیواد د ډیر بیړني پرمختګ هیلې ورسره پیدا شوې وې او له دې ډلې نه یې غوښتل چې د هیواد ښځې او نارینه لکه د نورو هیوادونو غوندې یو د بل ترڅنګ د هیواد خدمت او هیواد ته کار وکړي . امان الله خان د ۱۳۰۷ کال په لویه جرګه کې چې د وږي په برج کې شوی وه خپل ځینې پروګرامونه وړاندې کړل خو ټول ونه منل شول نو بیا یې د همدې کال د تلې په ۱۵ نیټه د کابل د ستور په ماڼۍ کې خپل د اصلاحاتو پروګرام اعلان کړ چې په دې پروګرام کې بهر ته د زده کړې لپاره د نجونو لیږل هم شامل وو او په همدې میاشت کې ترکیې ته د افغانې نجونو یوه دیارلس کسیزه ډله ولیږله شوه ، دا ډله د مشرقي په لار هند او له هغه ځایه ترکیې ته ولاړه . د افغانستان دښمنانو له یوې خوا او د امان الله خان بیړنیو اقداماتو له بلې خوا د حکومت د بیدینۍ په باب خورې شوې اوازې تودولې او د نجونو دې لیږلو د خلکو په ذهن کې دا اوازې نورې هم ربښتیا کړې . په همدې لړ کې د ننګرهار سنګوخیلو شینوارو ته خبر رارسیدلی ؤ چې امان الله خان افغانې نجونې خارج ته د تحصیل لپاره لیږي او د تورخم په لاره به له افغانستان څخه وزي ؛ دوی دا کار د اسلامي عفت او افغاني حیثیت مخالف وباله او تړه یې وکړه چې

ځجونو ته به لار نیسي او راګرځوي به یې ، له دوی نه یا د ځجونو د وتلو پروګرام غلط شو او یا قصداً همداسې غلط پروګرام ورکړی شوی وُ ، نو داسې وخت سرك ته ورسیدل چې ځجونې په لاره تیرې شوې او له افغانستان څخه وتلې وې ، دوی وقهریدل او د همدې کال د لړم اوومه نیټه یې په خپله محلي حکومتي حمله وکړه ، دولتي ټوپك یې ترلاسه کړل او بیا یې پراخه بغاوت ته دوام ورکړ چې په نتیجه کې یې جلال-آباد سقوط شو . (٥٥)

په هرحال حکومت خپل د اصلاحاتو پروګرام بیرته واخیست او د وخت پاچا خارج ته د ځجونو د لیږلو په برخه کې داسې توضیحات ورکړل :

«هغه ځجونې چې خارج ته زده کړې ته لیږل شوې ، ځینو کسانو داسې فکر کړی چې هغه غیراسلامي هیوادو ته لیږلی شوي ، نه داسې نه ده ، هغوی غیراسلامي هیوادو ته نه دي تللې ، یوازې د ترکیې اسلامي هیواد ته د ښځو د مخصوصو ناروغیو د طبابت د زده کړې لپاره لیږلې شوې څو مسلماني میرمنې اړې نه وي چې په خاصو ښځینه ناروغیو کې نارینه ډاکټر ته ورشي ؛ په کوم ښوونځي کې چې دوی درس وایي ما په خپله لیدلي او دا په ترکیه کې د ښځو د زده کړې لپاره مخصوص دی او دوی هلته د افغاني سفیر غلام جیلاني خان د میرمنې ترخاصې څارنې لاندې زده کړه کوي او نوموړی صلاحیت لري چې هغه ټول مقررات پرې تطبیق کړي چې د افغاني عفت او عصمت غوښتنه ده خو بیا هم څرنګه چې دا موضوع د خلکو په نظر کې بده ګڼله شوې او فکر یې کړی چې نورو هیوادو ته تللې ، بیرته مې راوغوښتلې» (٥٦)

د همدې فرمان په ١٦ ماده کې د مستوراتو د ښوونځي په باب ولیکل شول :

« د مستوراتو مکتب د علماوو په فتوی جوړ شوی ؤ خو اوس دې د وکیلانو د مجلس او د اعیانو د مجلس تر پریکړې پورې معطل وي .»

(۵۷) تر دې وروسته د ۱۳۰۷ (۱۹۲۸) کال د مرغومي په ۲٤ نیټه حکومت سقوط وکړ او کابل د حبیب الله کلکاني چې د سقاو په زوی مشهور ؤ لاس ته ولوید او دتمدن د نورو آثارو له متوقف کیدلو سره د نجونو زده کړې او فرهنګي فعالیتونه هم بند شول .

پایلیکونه :

۱ - رفیع ، حبیب الله : « مستورات او عصمت ، په هیواد کې د ښځمنو لپاره لومړني ښوونځي » کهول (مجله) لومړی کال ، لومړی ګڼه ۱۱٦ مخ ، د ۱۳۵۵ کال سلواغه ، کابل . د دې مقالې مأخذ د معرف معارف بیلا بیلې ګڼې دي خو متأسفانه چې اوس ضایع شوې نوځکه په دې لیکنه کې له همدې مقالې نه استفاده شوې او د معرف معارف کومې ګڼې چې راسره شته له هغو نه مستقیمه استفاده شوې چې په مأخذونوکې په خپل خپل ځای ښودلې کیږي .

۲ - د افغانستان دولت : « نظامنامهء اساسي وزارت جلیلیهء معارف » ، دوهم چاپ ، ۱۳۰۵ هـ ش (۱۹۲٦ م) بیلا بیل مخونه .

۳ - حبیب ، اسدالله : « دورهء اماني » ۳٤ مخ ، ۱۳٦۸ ، کابل د افغانستان د علومو اکیډمي .

٤ - محمد حسین (په هغه وخت کې د افغانستان د عمومي تدریساتو رئیس) : « افغان بادشاه » د ۱۳٤٦ کال روژه ، د لاهور چاپ ، ۲۹٤ مخ .

۵ - همدا کتاب ، ۳۰۰ مخ .

٦ - رفیع ، حبیب الله : « مستورات او عصمت .» یاده شوې مقاله

۱۱۶ - ۱۱۷ مخونه .

۷ - همدا مقاله ۱۱۷ - ۱۱۸ مخونه .

۸ - د همدې مجلې ۱۱۸ مخ .

۹ - د کهول د یادې شوې مجلې ۱۱۶ - ۱۱۷ مخونه .

۱۰ - معرف معارف ، سرمقاله ، دوهم کال ، اتمه گڼه ، د ۱۳۰۰ کال د وړې لومړۍ ، ۳ مخ .

۱۱ - معرف معارف ، گزارش ، دریم کال ، پنځمه گڼه ، ۱۳۰۰ د کب لومړۍ ، ۷ مخ .

۱۲ - د معرف معارف همدا گڼه ، ۷ - ۸ مخونه .

۱۳ - دوره‌ء امانی ، ۳۸ مخ .

۱٤ - جاوید ، پوهاند داکتر عبدالاحمد : دوره‌ء امانیه په « نگاهی برنقش فرهنگی افغانستان در عهد اسلامی » کتاب کې ، (د گڼو پوهانو مقالې) ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت ، ۱۳۵۵ ، کابل ، ۱٤۳ - ۱٤٤ مخونه .

۱۵ - معرف معارف ، گزارش ، دریم کال ، څلورمه گڼه ، د ۱۳۰۰ د سلواغې لومړۍ ، ٤۱ - ٤۲ مخونه .

۱٦ - د معرف معارف همدا یاده شوې گڼه ، ۵ - ٦ مخونه .

۱۷ - د همدې مجلې ۹ - ۱۰ مخونه .

۱۸ - د معرف د همدې گڼې ۱۱ - ۱۵ مخونه .

۱۹ - د معرف د یادې شوې گڼې ۱٦ - ۱۷ مخونه .

۲۰ - د همدې مجلې ۱۷ - ۲٤ مخونه .

۲۱ - د معرف د یادې شوې گڼې ۲٤ - ۲۷ مخونه .

۲۲ - په همدې گڼه کې د گزارش ۲۸ - ۳۱ مخونه .

۲۳ - د معرف د پورتنۍ گڼې ۳۲ - ۳۵ مخونه .

٢٤ - د همدې مجلې ٣٦ - ٣٧ مخونه .
٢٥ - د معرف د همدې ګڼې ٣٨ - ٣٩ مخونه .
٢٦ - د همدې ګڼې ٣٩ مخ .
٢٧ - معرف معارف ، ګزارش ، دریم کال ، پنځمه ګڼه ، د ١٣٠٠ د کب لومړي ، ٣٤ - ٣٧ مخونه .
٢٨ - معرف معارف ، ګزارش ، دریم کال ، ځلورمه ګڼه ، ٣٩ - ٤٥ مخونه .
٢٩ - د یادې شوې مجلی ٤٦ - ٤٨ مخونه .
٣٠ - د معرف د دریم کال د پنځمې ګڼې ٨ - ١٠ مخونه .
٣١ - د همدې ګڼې ١٠ - ٣٣ مخونه .
٣٢ - د معرف معارف د ګڼو ګڼو په ترڅ کې د دې مجلې وړومبی او وروستی ګڼې هم د لیکونکي په کتابتون کې خوندي دي . د دی مجلې د معرفی لپاره وګورئ : آهنګ ، محمد کاظم او رفیع ، حبیب الله : په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه ، ١٨١ - ١٩٢ مخونه ، د افغانستان تاریخ ټولنه ، ١٣٥٦ ، کابل .
٣٣ - په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه ، ٢٧٩ - ٢٨٠ مخونه .
٣٤ - د ارشاد النسوان یادې شوې ګڼې د لیکونکي په کتابتون کې خوندي دي .
٣٥ - په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه ، ٢٨١ - ٢٨٢ مخونه .
٣٦ - ارشاد النسوان ، لومړی کال ، پنځلسمه ګڼه (٥ - ٧ مخونه) ١٣٠٠ کال د سرطان دوهمه نیټه .
٣٧ - په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه ، ٢٨٢ مخ .
٣٨ - ارشاد النسوان ، لومړی کال ، ١٥ ګڼه ، ٨ مخ .
٣٩ - همدا ګڼه .
٤٠ - ارشاد النسوان ١٥ ګڼه ٤ ، ٥ مخونه ، ١٦ ګڼه ٤ ، ٥ مخونه .

٤١ - مایل هروي ، رضا : معرفی روزنامه ها ، جراید ومجلات افغانستان ، ۲ مخ ، ۱۳٤۱ . د مطبوعاتو مستقل ریاست ، کابل .

٤۲ - ارشاد النسوان ، ۱ کال ، ۱٦ گنه ، ۷ مخ .

٤۳ - په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه ، ۲۸٤ - ۲۸٥ مخونه .

٤٤ - په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه .

٤٥ - د دې اعلان اصل د لیکونکي په کتابتون کی خوندي دی .

٤٦ - ارشاد النسوان ، ۱٥ ، ۱٦ گنی .

٤۷ - په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه ، ۲۸۷ مخ .

٤۸ - د دې رسالې یوه نسخه له لیکونکي سره وه خو متأسفانه اوس له لاسه وتلې ده .

٤۹ - د تفصیل لپاره وگورئ : رویداد لویه جرگهء دارالسلطنهء کابل ، ۱۳۰۳ ، د کابل چاپ .

٥۰ - رویداد لویه جرگهء دارالسلطنهء کابل ، ۳۳۰ - ۳۳۱ مخونه .

٥۱ - یاد شوی اثر ، ۳۳۱ - ۳۳۲ مخونه .

٥۲ - د همدې اثر ، ۳۳۳ - ۳۳٤ مخونه .

٥۳ - زهیر ، پاینده محمد او علمي ، محمد یوسف : د افغانستان د معارف تاریخ ، دوهمه برخه ، ۳ مخ ، ۱۳۳۹ ، کابل .

٥٤ - د دې سفر د تفصیل لپاره وگورئ : وکیلی ، عزیزالدین «سفرهای غازی امان الله خان در ۱۲ کشور آسیا واروپا» .

٥٥ - اخلاص ، عبدالخالق : د استقلال څلورمه جبهه ، د حبیب الله رفیع سریزه ، یوویشتم مخ .

٥٦ - سرکاري اعلان د ۱۳٤۷ د رجب المرجب د ۲۸ نیټې لیک (دسمبر ۱۹۲۸) .

٥۷ - همدا سرکاري فرمان .

دوهم څپرکی

د ځوانو د زده کړو بندیدل

د ۱۳۰۷ (۱۹۲۸) کال د مرغومي په ۲٤ نیټه په کابل کې د حبیب الله کلکاني د حکومت له اعلانیدلو سره افغانستان خپل قانوني حکومت له لاسه ورکړ او په لسهاوو نظامنامې او اصولنامې چې د هیواد د سیاست او اداري چارې یې سنبالولې ، متوقفې شوې او یو مطلق انارشیزم پر هیواد مسلط شو .

په دې دوره کې د پوهنې وزارت تشکیل له منځه ولاړ او د حبیب-الله کلکاني د یوه فرمان په ترڅ کې د نورو چارو د موقوفېدو ترڅنګ ، د دې فرمان په پنځمه ماده کې د ځوانو مکتب په دې الفاظو وتړل شو : «له کور نه د ولي تراجازې پرته د بالغو ځوانو او ښځو وتل او د مستوراتو مکتب مې موقوف کړ» . (۱) په دې سربیره یې د همدې

فرمان په اوومه ماده کې د انګریزي ، فرانسوي او جرمني زده کړې ښوونځي هم متوقف کړل (۲) او د همدې فرمان په اتمه ماده کې یې ولیکل : نجونې یې چې خارج ته لیږلې وې ، د ملت بدناموسي وه ، روا مې ونه بللل ، هغوی مې بیرته راوغوښتې او بیا مې یې لیږل بیخي بند کړل . (۳) همدا راز په ۱۲ ماده کې یې ولیکل : حساب ، هندسه او انګریزي یې چې رواج کړي وو موقوف مې کړل . (٤)

په دې سربیره یې په یوه بله همداسې مقرره کې چې په حبیب الاسلام کې خپره شوې په مطلق ډول د ټولو ښوونځیو تړل اعلان کړي دي چې لیکي : « مدرسې مې وتړلې ځکه د اولس زامنو چې شرعاً د بالغو نجونو حیثیت لري په دې مکتبونو کې داسې درسونه چې د شرعې ... او د قرآن د احکامو زده کړه پرې مرتبه نه وه ، ویل » . (۵)

په دې ترتیب په دې دوره کې نه یوازې د نجونو ، بلکه د هلکانو ښوونځي هم وتړل شول او څه کم یو کال همداسې تیر شو .

پایلیکونه :

۱ - د حبیب الله کلکاني رسمي چاپي فرمان ، د لیکونکي کتابتون .

۲ - همدا فرمان .

۳ - همدا فرمان .

٤ - همدا فرمان .

۵ - حبیب الاسلام (د سقوي دولت مرکزي جریده) لومړی کال ، لومړی ګڼه ، ۱۳۰۷ (۱۹۲۸) .

دریم څپرکی

د نجونو د زده کړې بیا پیلول او پرمختیایي ګامونه

د ۱۳۰۸ هـ ش (۱۲۲۹) کال د تلې په ۲۳ نیټه د محمد نادرشاه په پاچا کیدلو سره د دولت د ادارې د بیا رغونې کار په هر اړخیز ډول پیل شو ، تر دې نیټې یوه میاشت وروسته چې محمد هاشم خان صدراعظم خپله کابینه جوړه کړه ، د پوهنې وزارت یې بیرته پکې احیا کړ او د حبیبې ښوونځي یو پخوانی فارغ علی محمد خان یې د هغه وزیر وټاکه (۱) خو د ښوونځیو ترڅ شوي وروسته د حکومت تر جوړیدو وړاندې د نادري دولت د راتلو په لومړیو ورځو کې پرانستل شول ، ځینې ښوونځي لکه استقلال (امانیه) هماغه د تلې په برج او ځینې نور یې لکه نجات (اماني) او غازي د لړم په برج کې بیا فعال شول او هم د حبیبیې ښوونځي د شهرارا د ماڼۍ د سوځیدو له

امله خپل درسونه په بوستان سرای کی پیل کړل . (۲) همدا راز مسلکي او ديني زده کړې هم بيرته پيل شوې او د صنايعو ښوونځی ، عربي دارالعلوم او اصول تحرير هم يو پر بل پسې بيرته فعال شول . (۳)

د افغانستان د پوهنې په عاجله بيا رغونه کې د راپيښو شويو ستونزو له امله د نجونو زده کړې بيا هم يو دوه کاله نورې متوقفې پاتې شوې او په ۱۳۱۰ هـ ش کال کې د نجونو د زده کړو د بيا پيلولو لپاره يوه بله لاره ولټوله شوه او د مستوراتو په روغتون کې د نجونو لپاره د قابلګۍ کورس پرانستل شو چې د يوی فرانسوي ښوونکی له خوا اداره کيده . (٤) د دې ترڅنګ د نجونو پخوانی ښوونځی هم پرانيستل شو چې زده کوونکو ته پر ژبه سربيره اختصاصي مضامين پکې ورښودل کيدل ، نجوني به کله له اووم ، کله له اتم او کله له نهم ټولګي وروسته ترې فارغيدلې خو په عمومي توګه يې زده کړې د ډاډ وړ نه وې . (۵)

په ۱۳۱۸ کال کې د قابلګۍ د ياد شوي کورس د لوړنيو زده-کړو برخه د پوهنې له وزارت سره وتړله شوه او تر ابتدايي زده کړو وروسته يو شمير زده کوونکي د عملي زده کړو او د ستاژ د دورې لپاره د پوهنې وزارت له خوا د مستوراتو روغتون ته ليږل کيدلې (٦) دا کورس په ۱۳۱۹ کال کې په ښوونځي واوښت او مادلم فريسه د دې کورس فرانسوي ښوونکی او منتظمه د دې ښوونځي مديره او عبدالباقي خان يې مرستيال وټاکل شو (۷) د مستوراتو دې ښوونځي بيرته عمومي بڼه غوره کړه او د نجونو د زده کړو په مرکز واوښت ، د پوهنې وزارت په همدې کال د دې ښوونځي د بشپړ پروګرام لپاره اصول ترتيب او تدوين کړل چې د قابلګۍ د زده کړو مفردات ، د کورنيو زده کړو بڼه د معلماتو وظايف او د يوه کلنۍ مهال ويش د تطبيق لارې چارې پکې تنظيم شوې وې . (۸) په ۱۳۲۰ کال کې دا ښوونځی د نجونو په ليسه

بدل شو او د مدیریت چارې یې د پخوا په شان د مادام فریسه پرغاړه وې (۹) چې په دې ترتیب اساساً له ۱۳۱۸ کال نه د مستوراتو لیسه په پاخه بنیاد جوړه او د پرمختګ لپاره یې لاره اواره شوه .

په ۱۳۲۰ کال کې چې د هیواد عمومي زده کړې د څلورو ټولګیو پرځای شپږو ټولګیو ته لوړې شوې وې نو د مستوراتو د لیسې د پنځمو او شپږمو ټولګیو لپاره هم ځانګړې درسي کتابونه تهیه او وټاکل شول (۱۰) او په همدې کال د روغتیا په وزارت کې د نجونو لپاره د پرستارۍ یو کورس پرانستل شو چې درسي لارښود یې له ترکي ژبې نه ترجمه او چاپ شو . (۱۱)

د نجونو د زده کړو د ودې بهیر :

۱۳۲۵ - ۲۶ کلونه د ښځمنو د زده کړو او فرهنګي فعالیتونو په بهیر کې داسې کلونه وو چې یوځل بیا زموږ ټولنې د دې نیمایي اوسیدونکو زده کړو او فرهنګي ودې ته هر اړخیزه توجه وشوه او پرمختیایي ګامونه واخیستل شول .

د مستوراتو د پخوانۍ لیسې ترڅنګ د مستوراتو یوه بله لیسه هم د اندرابیو د نجونو د لومړني ښوونځي لیسې ته په لوړیدلو سره جوړه شوه ، په ۲۵ کال کې د مستوراتو له لیسې نه لومړۍ ډله نجونې د بکلوریا په سویه فارغې او د نجونو په لیسو کې ښوونکې وټاکلې شوې ، د معلماتو د علمي سویې د لوړولو لپاره د مستوراتو په ښوونځي کې د لوړو تحصیلاتو یو دارالمعلمات جوړ شو ، په همدې کال د نجونو د دوو نورو ښوونځیو جوړول ومنل شول ، د همدې کال په اوږدو کې د نجونو زده کړې له مرکز نه ولایاتو ته هم وغځیدې او د هرات نایب الحکومه عبدالله خان د نجونو یو ښوونځی هلته جوړ کړ چې د لیسې په

سویه خپلو زده کړو ته دوام ورکړي . (۱۲)

په همدې کال کې د مستوراتو د لیسې په درسي نصاب غور وشو او د هیواد په ملي ژبو او فرانسوي ، انګلیسي او جرمني ژبو زده کړه پکې کیدله ، د نجونو د لیسو د ښه انسجام لپاره عبدالرحمن خان د دې لیسو آمر وټاکل شو او بیا یې غلام محمد خان مرستیال شو ، د لومړۍ لیسې مدیره فرانسوی مادام هنف او د دوهمې لیسې مدیره میرمن بریښنا مقررې شوې . (۱۳)

په ۱۳۲۷ - ۲۸ کلونو کې د نجونو د ښوونځیو او لیسو د ابتدایي او ثانوي دورې لپاره یو نوی تقسیم اوقات جوړ شو ، د دې مهال ویش له مخې تر نهم ټولګي پورې نجونو له ښځو سره د مربوطو مطالبو ترڅنګ د هلکانو د ښوونځیو پروګرام تطبیقاوه ، تر نهم ټولګي وروسته د نجونو ښوونه او روزنه په دوو برخو ویشل کیدله چې یوې برخې یې د هلکانو د ښوونځي په شان پروګرام درلود خو بله برخه یې عمومي او فامیلي څانګه ده چې ځانګړی پروګرام یې ورته جوړ کړی وُ . (۱٤) .

په زده کړو کې له هغو معلماتو نه استفاده کیدله چې په دارالمعلمات کې په تحصیل بوختې وې . (۱۵) د عالي دارالمعلمات دا کورس د ۱۹٤۸ کال په مارچ کې تأسیس شو او د جوړیدو علت یې هغه ضرورت وُ چې په ثانوي زده کړو کې د نجونو شمیره مخ په زیاتیدو وه . د دې کار عملي پروګرام داسې جوړ شو چې معلماتو د خپل بشپړ معاش په اخیستلو سره په اوونۍ کې ۱۲ ساعته په لومړنیو ټولګیو کار کاوه او په اوونۍ کې یې ۱۸ ساعته درس ورکاوه او د کورس ښوونکي د پوهنتون د پوهنځیو استادان وو . (۱٦)

د نجونو دارالمعلمات د ساینس او ادبیاتو دوې څانګې درلودې چې

د ساینس په څانګه کې به ریاضیات ، کیمیا ، فزیك او بیولوژي تدریس کیدله او د ادبیاتو په څانګه کې دري ، تاریخ ، جغرافیه او د ژبو او پیداګوژي مضامین شامل وو . (۱۷) دې دارالمعلمات اساساً د نجونو د پوهنځي حیثیت درلود چې تر زده کړې وروسته به یې د لیسانس سند ترلاسه کاوه او د نجونو په ښوونځیو کې ښوونکې مقرریدلې . (۱۸)

دا وخت د نجونو د زده کړو عملي پروګرام داسې تاکل شوی ؤ چې په اووه کلنۍ کې به لومړنیو ښوونځیو کې شاملیدلې او شپږ کاله به یې زده کړه کوله ، د لومړۍ دورې د ښوونې لو روزنې غایه دا وه چې زده کوونکو ته لیکل او لوستل ورزده کړي ، حیاتي معلومات ورکړي ، د هغوی طبیعي استعدادونه او قابلیتونه تحریك کړي ، نجونې جسماً او روحاً پیاوړې وروزي ، اخلاقي او اسلامي ښکنې وروښيي او له بلې خوا د دې دورې زده کوونکې د ثانوي تعلیماتو لپاره چمتو کړي . د دې ټکو په نظر کې نیولو سره د نجونو د لومړنیو ټولګیو درسي پروګرام په لاندې ډول ترتیب شوی ؤ :

مضمونونه / ټولګي :	۱	۲	۳	٤	٥	٦	
۱ – قرآن کریم :	۲	۲	۲	۲	۲	۲	ساعته
۲ – دینیات :	۲	۲	۲	۲	۲	۲	ساعته
۳ – دري لو خط :	۱۳	۱۱	۱۱	٦	٥	٥	ساعته
٤ – پښتو :	.	.	.	۳	۳	۳	ساعته
٥ – حساب او هندسه :	٤	٤	٤	٤	٤	٤	ساعته
٦ – عمومي معلومات او حفظ الصحه :	.	.	.	۲	۲	۲	ساعته

مضمونونه / ټولګي :	١	٢	٣	٤	٥	٦	
٧ - تاریخ :	.	.	.	٢	٢	٢	ساعته
٨ - جغرافیه :	.	.	.	٢	٢	٢	ساعته
٩ - د ماشوم روزنه :	.	.	.	.	١	١	ساعته
١٠ - پخلي او د کور چارې :	.	.	.	٢	٢	٢	ساعته
١١ - ګنډل او اوبدل :	.	٢	٢	٢	٢	٢	ساعته
١٢ - بدني روزنه :	١	١	١	١	١	١	ساعته
١٣ - رسم او لاسیکار :	٢	٢	٢	٢	٢	٢	ساعته
ټول :	٢٤	٢٤	٢٤	٣٠	٣٠	٣٠	ساعته

(١٩)

په ثانوي دوره کې چې شپږ کاله یې دوام کاوه هڅه کیده چې نجونې د عمومي معلوماتو ترڅنګ له دیني او اخلاقي زده کړو نه زیاتې برخمنې شي . د نجونو په ښوونځیو کې تر نهم ټولګي پورې تر ګنډلو اوبدلو ، پخلي او ماشوم روزنې پرته نور هماغه د هلکانو د درس پروګرام تطبیقیده خو د لیسې په دوره کې د ابتدایي دورې پر مضامینو سربیره فزیك ، کیمیا ، بیالوژي ، منطق ، اخلاق ، فلسفه ، لوړ ریاضیات او خارجي ژبه هم تدریس کیدله .

د منځنۍ او لیسې د دورې تعلیمي پروګرام یې په لاندې ډول وو :

مضمونونه / ټولګي :	٧	٨	٩	١٠	١١	١٢	
دینیات :	٢	٢	٢	٢	٢	٢	ساعته
پښتو :	٣	٣	٣	٣	٣	٣	ساعته

مضمونونه / ټولګي :	۷	۸	۹	۱۰	۱۱	۱۲	
دري :	۳	٤	٤	٤	۵	۵	ساعته
خارجي ژبه :	٦	٦	٦	٦	٦	٦	ساعته
تاريخ :	۲	۲	۲	۲	۲	۲	ساعته
جغرافيه :	۲	۲	۲	۲	۲	۲	ساعته
رياضي :	۲	۲	۲	۲	۲	۲	ساعته
هندسه :	۳	۳	۳	۳	۳	۳	ساعته
فزيك :	۲	۲	۲	۲	۲	۲	ساعته
كيميا :	۲	۲	۲	۲	۲	۲	ساعته
بيالوژي :	۲	۲	۲	۲	۲	۲	ساعته
خياطي :	۲	۲	۲	۲	۲	۲	ساعته
رسم :	۲	۱	۱	۱	۱	۱	ساعته
عربي :	۲	۲	۲	.	.	.	ساعته
ټول :	۳۵	۳۵	۳۵	۳۳	۳۳	۳٤	ساعته

(۲۰)

د نجونو د لوړو زده کړو په لړۍ کې د دارالمعلمات او کورنيو چارو ښانګې شاملې وې ، د دارالمعلمات په ښانګه کې د نجونو د عمومي معلوماتو د ودې ترڅنګ د دوی تخصصي مضامينو ، لکه د ښوونې- اصول او روحياتو ته زياته توجه کيدله او پروګرام يې په لاندې ډول ؤ :

مضمونونه / ټولګي :	لسم	يوولسم	
قرآن کريم او دينيات :	۲	۲	ساعته

مضمونونه / ټولګي :	لسم	یوولسم
دری :	٥	٤ ساعته
پښتو :	٤	٤ ساعته
فزيك :	٢	٢ ساعته
كيميا :	٢	٢ ساعته
بیالوژي :	٢	٢ ساعته
رياضي :	٤	٤ ساعته
روحيات :	١	١ ساعته
اصول تدریس :	.	٢ ساعته
خياطي او اوبدل :	٢	١ ساعته
ځ :	٢	٢ ساعته
جغرافيه :	٢	٢ ساعته
رسم :	١	١ ساعته
خارجي ژبه :	٦	٦ ساعته
ټول :	٣٥	٣٥ ساعته (٢١)

د کورنیو چارو څانگه چې دوه کاله ویل کیدله د هغو نجونو لپاره وه چې ترفراغت وروسته یې واده کاوه چې په دې څانگه کې د کوچني-روزنه ، خياطي ، اوبدل ، پخلي اونور هغه مضامین چې له کورنیو چارو سره اړه لري ، شامل وو او پروگرام یې په لاندې ډول و :

مضمونونه / ټولګي :	لسم	یوولسم
دينيات :	٢	٢ ساعته

مضمونونه / ټولګي :	لسم	يوولسم	
دري :	۳	۳	ساعته
پښتو :	۳	۳	ساعته
فزيك :	۲	۲	ساعته
کيميا :	۲	۲	ساعته
بيالوژي :	۲	۲	ساعته
د کوچني روزنه :	۲	۲	ساعته
د کور تدبير :	۲	۲	ساعته
رسم او لاس چارې :	۳	۳	ساعته
رياضي :	۲	۲	ساعته
خياطي او اوبدل :	٤	٤	ساعته
پخلی :	۳	۳	ساعته
خارجي ژبه :	٤	٤	ساعته
روحيات :	.	۲	ساعته
ټول :	۳٤	۳٦	ساعته (۲۲)

په ۱۳۳٤ کال د نجونو يو بل ډول تجربوي ښوونځی پرانستل شو ، دې ښوونځي د شپږم ټولګي فارغانې منلې او د زده کړې درې کلنه دوره يې درلوده چې د کور سره اړوندې چارې پکې ښودل کيدې او خارجي ژبې ، پخلی ، حساب او دري ته هم پاملرنه پکې کيدله ، د دې ښوونځي د زده کړې پروګرام په لاندې ډول و :

مضمونونه / ټولګي :	۷	۸	۹	
قرآن کريم او دينيات :	۳	۳	۳	ساعته

مضمونونه / ټولګي :	۷	۸	۹	
دري	٤	٤	٤	ساعته
پښتو	٤	٤	٤	ساعته
دري خط :	۲	۲	۲	ساعته
عمومي معلومات :	۲	۲	۲	ساعته
حساب :	۲	۳	۳	ساعته
اوبدل :	٤	٤	٤	ساعته
ګنډل :	۲	۲	۲	ساعته
ګلدوزي او خامك :	۲	۲	۲	ساعته
رسم :	۲	۲	۲	ساعته
پخلی :	۳	۳	۳	ساعته
بهرنۍ ژبه :	٦	٦	٦	ساعته
د ماشوم روزنه :	۳	٦	٦	ساعته
ټول :	۳٦	۳٦	۳۹	ساعته

د قابلګۍ کورس چې په اساس کې د نجونو د دوهم ځلي زده کړو بنیاد ؤ د نجونو د عمومي زده کړو ترڅنګه خپل ژوند ته دوام ورکړ . دا کورس په ۱۳۳٤ کال کې د هغه تړون له مخې چې د پوهنې وزارت ، روغتیا وزارت ، طب پوهنځي او د نړۍ د روغتیایي مؤسسې ترمنځ وشو ، نوموړې مؤسسې له دې کورس سره لازمې مرستې وکړې او د تدریس او تحصیل لوازم یې ورته چمتو کړل . دې کورس ته کورنیو ښوونکیو ښوونه کوله چې زده کړې یې تر غرمې وروسته اوتطبیقات یې تر غرمې وړاندې وو . په دې کورس کې د اووم ، اتم او نهم ټولګي

زده کوونکي نیول کیدې او په درې ګونو ټولګیو کې یې لاندې مضمونونه درلودل :

لومړی ټولګی : باکتریالوژي ، فیزیولوژي ، انګلیسي ، ریاضي ، روغتیا ساتنه ، عملي ناروغپالنه ، دري ، اناتومي ، لومړنی مرستې . په اوونۍ کې (۳۰) ساعته .

دوهم ټولګی : جراحي ، ساري ناروغی ، انګلیسي ، ریاضي ، تغذي ، روغتیا ساتنه ، دري ، غوږ ، ستونی او پزه ، جراحي ناروغپالنه ، انستیزي ، اساسي ناروغپالنه او فارماکولوژي . په اوونۍ کی (۳۰) ساعته .

دریم ټولګی : ماشومان ، سترګې ، ریاضي ، داخله ناروغي ، فارماکولوژي ، نسایی ستاژ ، عقلي او عصبي ، انګلیسي ، دري ، انستیزي ، عملي ناروغپالنه په اوونی کې (۳۸) ساعته .

د قابلګۍ د کورس فارغانو د بکلوریا معادل برې لیک ترلاسه کاوه د هغې له حقوقو نه یې استفاده کوله او د افغاني مامورینو د ترفیع او تقاعد د قانون له مخې په خپل ماموریت کې وړاندې تللې . (۲٤)

په ۱۳۲۹ کال کې د نجونو د زده کړو لړۍ مزارشریف ته هم وغځیدله او هلته د نجونو لومړنی ښوونځی جوړ شو او هم د پوهنې وزارت تصمیم ونیو چې د هر ولایت اوسیدونکي چې د خپل ولایت د پوهنې له مدیریت نه د نجونو ښوونځی وغواړي ، ورته پرانستل کیږي (۲۵) او له دې سره د نجونو تعلیمات په مرکز او ولایاتو کې عام شول .

پایلیکونه :

۱ - حبیبي ، پوهاند عبدالحي : د افغانستان پیښلیک ، ۲٦٤ مخ ، ۱۳۵۳ ، د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه ، کابل . زهیر ، پاینده-

محمد او علمي ، محمد يوسف : « د افغانستان د معارف تاريخ » ۳۸ مخ ، ۱۳۳۹ کال د پوهنې وزارت ، کابل . (پيښليک دا نوم احمد علي ليکلی خو احمد علي تر علی محمد وروسته وزير شوی دی) .

۲ - د افغانستان د معارف تاريخ ، ۵۱ ، ٦٤ ، ٦۹ ، ۷۲ مخونه .

۳ - همدا کتاب ، لومړي ټوک ۷۹ ، ۸۳ ، ۹۵ مخونه .

٤ - د افغانستان د معارف تاريخ ، دوهم ټوک ، ۳ مخ .

۵ - همدا اثر ، ٤ مخ .

٦ - پښتو ټولنه : « سالنامهء کابل ۱۳۱۸ » ، ۸۲ مخ .

۷ - پښتو ټولنه : « د کابل کالنی ۱۳۱۹ ، ۷۱ مخ .

۸ - همدا کالنی .

۹ - پښتو ټولنه : « د کابل کالنی ۱۳۲۰ » ۱۵ مخ .

۱۰ - همدا کالنی ، ٦۰ ، ٦۲ مخونه .

۱۱ - همدا کالنی ، ۸٦ مخونه .

۱۲ - پښتو ټولنه ، کابل کالنی ، ۲۵ - ۱۳۲٦ کلونه ، ۸۸ ، ۸۹ مخونه .

۱۳ - همدا کالنی ، ۸۸ - ۸۹ مخونه او د ۱۳۲٦ - ۲۷ کال کالنی ، ۱۷ مخ .

۱٤ - کابل کالنی ، ۱۳۲۷ - ۲۸ کلونه ، ۱۰۷ مخ .

۱۵ - همدا مأخذ .

۱٦ - همدا کالنی ، ۳٦٦ مخ .

۱۷ - همدا مأخذ .

۱۸ - د افغانستان د معارف تاريخ ، دوهم ټوک ، ۵ مخ .

۱۹ - همدا کتاب ، ۲/٦-۷ مخونه . (يادونه : د ۱۰ ، ۱۱ ، ۱۲ ټولګيو د ساعتونو مجموعه يې ناسمه ليکلې شوې نو کيدای شي

چې د درسي ساعتونو په شميره کې غلطی ترې شوې وي) .

۲۰ - د همدې کتاب ۸ مخ .

۲۱ - د همدې کتاب ۹ مخ .

۲۲ - د همدې تاريخ ۱۰ مخ .

۲۳ - د معارف تاريخ ۲/ ۱۰-۱۱ مخ .

۲٤ - د همدې کتاب ۱۲ - ۱۳ مخونه .

۲۵ - کابل کالنۍ ، ۱۳۲۹ کال ، ۸۸ - ۸۹ مخونه .

څلورم څپرکی
نوي افقونه

په ۱۳۲۵ کال کې د افغانستان د ښځمنو په فرهنګي فعالیتونو او د ښوونې او روزنې په بهیر کې نوي افقونه پرانیستل شول چې د فرهنګي فعالیتونو په سلسله کې د میرمنو ټولنه ورته جوړه شوه او افغاني میرمنو د ژوند په نویو افقونو کې الوتنې پیل کړې .

د میرمنو ټولنې جوړېدل :

د میرمنو ټولنې مؤسسه لومړی ځل د ۱۳۲۵ کال په پای کې په کابل کې جوړه شوه چې هدف یې د افغاني میرمنو د اجتماعي پوهې وده او د فکرونو روزنه وه (۱) او هیله کیده چې افغاني ښځمنې په ښه توګه خپلو دیني او اجتماعي چارو ته چمتو کړي . (۲)،

د میرمنو ټولنه یوه مستقله خیریه مؤسسه وه چې په لومړي گام کې له کابل ښار نه دوه سوه زره (۲۰۰۰۰۰) افغانۍ د مرستې په توگه ورته راغونډې شوې ، د وخت د پاچا محمد ظاهرشاه میرمن ملکه- حمیرا یې سرپرسته وه او د منورو میرمنو یو مشورتي مجلس یې درلود . (۳) د دې مؤسسې لومړنۍ افتخاري رئیسه د شاه محمود خان غازي لور میرمن قمر وه چې په ۱۳۲٦ کال کې یې پر ځای میرمن رقیه اعتمادي وټاکله شوه او بیا په ۱۳۲۹ کال کې پیغله زینب عنایت سراج د دې ټولنې مشره وټاکله شوه . (٤)٠

د میرمنو ټولنې مشورتي هیئت په خپلو لومړنیو غونډو کې د مؤسسې اساسي دندې وټاکلې او هم یې له ښاري میرمنو نه د همکارۍ او مرستې غوښتنه وکړه ، دې هیئت د مؤسسې لومړني تشکیلات د سواد ، لاسي کارونو ، د کور د چارو ، اخلي پخلي او نورود زده کړې د کورسونو له جوړولو نه پیل کړل چې یو شمیر ځوونې او ښځې په ډیره مینه او علاقه پکې شاملې شوې . (٥)٠

په ۱۳۲٦ کال کې د دې ټولنې نیم اداري لگښتونه دولت په غاړه واخیستل او پاتې نیمه برخه د ملي افغان بانك خیریه څانگې ومنل او یو څارونکی هیئت ورته وټاکل شو چې لاندې کسان پکې وو :
میرزا محمد یفتلي د دولت وزیر ، د رئیس په حیث او علي محمد خان د عظمی صدارت لومړی مرستیال ، عبدالمجید زابلی د افغان ملي بانك رئیس ، عبدالهادي خان داوي او سید قاسم رښتیا د غړو په توگه . (٦)

د مؤسسې مشورتي او څارونکی هیئت د موسسې لپاره لاندې تشکیلات جوړ کړل : عمومي سرپرست ، افتخاري رئیسه ، اداري رئیسه ، مرستیاله ، د کورسونو مدیریت ، تجارتي مدیریت ، د فرمایشونو مدیریت ، قراردادي مدیریت ، د کتابخانې مدیریت ، د

کلوپ مدیریت د سینما ، د عمومي باغ مدیریت ، د لیکونو مدیریت ، د پانو مدیریت ، د اجرائي مدیریت ، د مامورینو مدیریت ، د کنټرول څانګه او تعاوني څانګه . (۷) .

د ۱۳۳۸ کال په وري کې د میرمنو ټولنه د پوهنې له وزارت سره وتړله شوه او له دې سره یوه نوې اساسنامه ورته جوړه شوه چې د میرمنو ټولنې دندې یې تر پخوا منظمې او منسجمې کړې او د مؤسسې هدف او مرام تر پخوا زیات د ښځمنو د بیدارۍ او ویښتیا لپاره وقف شو . (۸) .

د میرمنو ټولنې اساسنامې اته څپرکي درلودل چې په لومړي څپرکي کې یې د مؤسسې نوم او مرام روښانه شوی او پکې ویل شوي چې دا یوه دولتي مؤسسه ده چې د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د میرمنو ټولنې په نامه جوړېږي ، مرکز یې په کابل کې دی او څانګې په ولایاتو کې لري ، هدف یې د ښځینه ټولنې د ښوونې او روزنې او د افکارو د روښانولو لپاره د وسایلو برابرول دي چې دوی خپل ټولنیز دریځ ټینګ کړای شي او دې هدف ته د رسیدو لپاره به مرسته ورسره کېږي . مؤسسه به هغو ښځو ته چې په رسمي ښوونځیو کې د داخلیدو له قانوني سن نه اوښتې وي د عصري زده کړو زمینه برابروي ، له هغو ناوړو دودونو سره به چې زموږ له دیني او ملي عنعنو سره برابر نه وي ، مبارزه کوي ؛ د کتابونو ، مجلو ، فلمونو او روزنیزو نندارو له لارې به د ښځو د تنویر او ګټورې بوختیا لاره هواروي ؛ له ښځینه ښوونځیو او مدرسو نه وتلو نجونو ته به د کار او فعالیت زمینه برابروي ؛ د یوه مرستندوی مرکز په توګه به اړو میرمنو ته د کار لټه کوي او د خیر پالونکو کسانو مرستې به مستحقو میرمنو ته رسوي ؛ د ګنډلو او اوبدلو د لاسي کارونو د بیا او په نوي طرز ژوندي کولو لپاره به هڅه کوي او د ښځو لپاره به ګټور معلومات برابروي او د کورنیو چارو

لارښوونې به ورته کوي . (۹)

د اساسنامې دوهم څپرکی د مؤسسې مالي منابع څیړي او لیکي : د مؤسسې پانګه (......) افغانۍ ده ؛ د مؤسسې ټوله لیږدیدونکې او نه لیږدیدونکې شتمني ، لکه د سینما ودانۍ ، باغ او نور د مؤسسې بیه او پانګه ګڼل کیږي ؛ د مؤسسې بودجه د مرستندویو مؤسسو له خوا ترلاسه کیږي او د دولت مرسته به تر هغه وخته دوام کوي چې د مؤسسې عواید خپل لګښتونه پوره کړای شي ؛ د مؤسسې د عایداتو منابع د سینماګانو له سودونو ، د ننداړو له کتنو ، د مؤسسې له اړوندو تفریحځایونو ، د مؤسسو او کسانو له مرستو او د مصنوعاتو او څېرونو له خرڅلاو څخه ترلاسه کیږي . (۱۰)

دریم څپرکی د مؤسسې اداره او تشکیلات راپېژني او لیکي : د مؤسسې افتخاري رئیسه د وخت ملکه ده او د مؤسسې چارې لاندې ارکان ترسره کوي : عالي شوری ، عامل هیئت او څارونکی هیئت . (۱۱)

څلورم څپرکی د مؤسسی عالي شوری راپېژني چې : د پوهنې مالیې او تجارت له وزیرانو ، د مطبوعاتو د مستقل ریاست له رئیس ، د مؤسسې له رئیس او مرستیالې او د مؤسسې له څلور تنو افتخاري غړو څخه جوړه ده چې د عالي شوری رئیس او مرستیال په انتخابي ډول ټاکل کیږي او د دوی وظایف را په ګوته کوي . (۱۲)

پنځم څپرکی د مؤسسې عامل هیئت یا اجرائیه قوه په ګوته کوي چې له رئیسې ، مرستیالې او مسلکي مدیرانو څخه جوړه ده ؛ عامل هیئت به هره اوونۍ غونډه کوي او د مؤسسې چارې به ترغور لاندې نیسي او د مؤسسې د چارو د پراختیا او پرمختیا لارې چارې به لټوي . (۱۳)

شپږم څپرکی د مؤسسې د څارونکي هیئت تشکیل او صلاحیتونه څرګندوي چې د پوهنې او مالیې د وزارتونو نماینده ګان به پکې وي او

کلنی مالي گزارش به تصدیق کوي او د مؤسسی د مالي او حسابي چارو څارنه به کوي او عالي شوری ته به مسؤولیت لري . (١٤)-

اووم څپرکی د مؤسسې مسلکي او اداري څانګې شمیري او په پنځو لویو برخو یې ویشي : د تبلیغاتو او نشراتو څانګه ، د فرهنګي اړیکو اداره ، صناعتي څانګه ، اداري څانګه او د کنترول څانګه چې بیا د هرې څانګی دندې او وظایف په نخښنه کوي . (١٥)-

اتم څپرکی څرګندوي چې د مؤسسې رئیسه او مامورین د دولت د رسمي مامورینو په شان له ټولو قانوني حقوقو نه برخمن دي او د دفترداری او محاسبې چارې یې د تجارتي او بانکي ادارو په شان ترسره کیږي . (١٦)-

میرمنو ټولنې د خپل کار له پیل نه ګڼ شمیر افغاني میرمني په روزنیزو ، ټولنیزو ، اقتصادي او ډله ییزو چارو کې وروزلې او په کار یې وګومارلې چې روزنیز او فرهنګي فعالیتونه یې په لاندې توګه څیړلای شو :

میرمنو ټولنې د خپلو لومړیو خدمتونو په لړ کې د هغو نجونو او ښځو لپاره چې د بیلا بیلو علتونو له مخې د ښوونځي له زده کړو څخه پاتې شوي وي د روزنی پروګرام جوړ کړ او د ښوونځي په بڼه یې زده کړې ورته پیل کړې ، دې لړۍ لومړی لنډ او ساده پروګرام درلود خو وروسته چې په دې ښوونځي کې د شاملو نجونو سویه لوړه شوه نو پروګرام یې هم ګټور او جامع شو او لاندې مضامین پکې ورښودل کیدل : قرآن کریم ، دینیات ، تاریخ ، جغرافیه ، خط ، ریاضي ، پښتو ، دري (١٧) په ١٣٣٩ کال کې د دې اساسي کورسونو شمیره (١٨) ته ورسیده چې (١٠٢٠) تنې زده کوونکې پکې شاملې وې ، د شاګردانو له زیاتیدو او د زده کړو له وسعت سره دې روزنیزو

کورسونو ته د میرمنو ټولنې مسلکي ښوونځی نوم ورکړ شو (۱۸) او شپږ ټولګي یې درلودل . (۱۹)

د اساسي کورسونو ترڅنګ د هغو ښځو لپاره چې د زیات سن او اولاد لرونکې وې د لویانو کورسونه هم جوړ شول چې د ډاکټر «لاباک» د اصولو له مخې درس ورکول کېده او هم د دې لپاره چې له بیسوادۍ سره مبارزه ښه ګړندۍ‌شي په ۱۳۳۷ کال کې د دې کورسونو ۱۲ تنې ښوونکې ترخاصې روزنې لاندې ونیولې شوې او د لویانو د کورسونو ځانګړې ښوونه ورکړه شوه . (۲۰)

میرمنو ټولنې په خپله غیرت کې د ګنډلو او اوبدلو کورسونه هم جوړ کړل چې محصولات یې د ښوونځیو په غریبو نجونو ویشل کېدل (۲۱) او هم په دې کورسونو کې د ستنو د لاسي کارونو ډېر ښکلي او نفیس ډولونه ښځو ته وروښودل شول چې په نندارتونو کې ایښودل کېدل . (۲۱)

د تبلیغاتو څانګې په هرو پنځلسو ورځو کې د روزنیزو ، ټولنیزو او روغتیایي چارو په باب کنفرانسونه جوړول چې ګڼو ښځو برخه پکې اخیسته او دې کنفرانسونو له بیسوادۍ او خرافاتو سره د مبارزې په لاره کې اغیزمنه ونډه درلوده . (۲۲)

د میرمنو ټولنې د زده کړو د برخې یو بل مهم اقدام په هیواد کې د وړکتوني روزنو پیلول وو ، په دې لړ کې میرمنو ټولنې د خپل مرکزي وړکتون په جوړولو سره د هغو ماشومانو د روزنې او پالنې لاره هواره کړه چې په کور کې سرپرست نه لري ، په لومړي ګام کې دې وړکتون هغه ماشومان جذب کړل چې میندو یې په میرمنو ټولنه کې کار کاوه ، دې وړکتون تر یوه ګډ پروګرام لاندې ماشومان تر پالنې لاندې ونیول : دا ماشومان په هرو پنځلسو ورځو کې د مؤظف ډاکټر له

خوا کتل کیدل ، وړکتون ته ځانګړې بودجه ورکړل شوې وه خو د ماشوم ولي هم مکلف ؤ چې د داخلې په نامه سل افغانۍ د کال په سر کې تحویل کړي ، د وړکتونونو دا لړۍ پسې پراخه شوه او د مؤسسې د کار کوونکو پر ماشومانو سربیره یې نور ماشومان هم ومنل . (۲۳) دې وړکتون لومړی (۱۵) تنه ماشومان درلودل خو په دریو کلونو کې (۱۵۰) تنو ته ورسیدل ، د وړکتون په څلور کلن کیدلو سره د تبلیغاتو په عمومي مدیریت کې ځانګړې آمریت ورته جوړ شو او یو بل ټولګی پرې ورزیات شو ، د معاینې خونه ورته جوړه شوه ، دیوالي کوچنی درملتون ورته ترتیب شو ، ټولو ماشومانو ته روغتیایي فورمې واچولې شوې ، د واکسین کولو لاره یې هواره شوه او د هغې وخت د پوهنې وزارت د پوهنې عمومي سرطبیب ډاکټر محمد عزیز سراج د دې وړکتون د ځانګړي ډاکټر په توګه وټاکل شو (۲٤) د دې وړکتون د ماشومانو د ذهني ودې لپاره په ټولګي کې دننه د لوبو لرګین وسایل موجود وو چې سالمې لوبې او تمرینونه یې پرې کول ، له دري الفبی سره یې اشنا کول ، د پښتو ځینې لغتونه ورښودل کیدل او لاسي کارونه یې د خپلو ښځینه استادانو په لارښوونه کول ، همدا راز دوی له ټولګی نه بهر د ورزشي لوبو سامانونه درلودل چې د ښوونې او روزنې مؤسسې ورته تیار کړي وو ، ملي اتڼ او ترانې ورښودل کیدې ، ډرامې او ننداري یې تمثیلولې چې میرمنو ټولنې د تمثیل خاصې جامې ورته جوړې کړې وې . (۲۵) د خوړو په لړ کې هر سهار لس بجې هر ماشوم ته یو ګیلاس شیدې د سیلو له یوې ټوټې ډوډۍ سره ورکول کیدې او په اوړي کې به چې هوا توده وه له موسم سره سمه تازه میوه هم ورکول کیدله . (۲٦)

میرمنو ټولنې د عملي زده کړو د ودې او پراختیا لپاره د ۱۳۳۸

کال د سلواغې په ۱۸ نیټه د ایشیا فونډیشن په مرسته د ټایپستۍ کورسونه پرانیستل چې د پښتو - دري او انګلیسي ټایپ پکې ورښودل کیده ، په لومړۍ دوره کې د پښتو - دري ټایپ زده کوونکې ۲۰ او د انګلیسي ټایپ زده کوونکې لس تنې وې ، د دې کورسونو د زده کړې دوره پنځه میاشتې وه او هغو میرمنو ته ورښودل کیده چې کارونه لري او بیا په دفترونو کې د ټایپستۍ چارې ترسره کړي ، همدا راز په دواړو برخو کې د ټایپستۍ د استادانو روزل هم په پام کې وو او هم یې د دې ترڅنګ د انګلیسي ژبې د زده کړې کورسونه هم پرانیستي وو چې د مؤسسې ځینې مامورینې او نورې میرمنې پکې په درس بوختې وې او هم د پښتو کورسونه هم ورسره جوړ شوي وو چې میرمنې له سوېې سره سمې پکې شاملې وې . (۲۷)

عرفاني ښوونې د میرمنو ټولنې یوه بله پراخه فرهنګي او هنري ساحه وه چې د تیاتر ، سینما ، کلوپ او شهرارا د ښځینه باغ له لارې یې ښوونې ترسره کیدې ؛ د میرمنو ټولنې تیاتر د هغې د ځوانیمرګې رئیسې پیغلې زینب عنایت سراج په نامه « زینب ننداري » بلل کیده او په پرله پسې توګه یې د هیواد د لیکوالو له خوا لیکل شوي او ژباړل شوي ډرامې ښودلې چې ښه تنویري اهداف یې درلودل او لیدونکو په مینه کتلی ، میرمنو ټولنې له دې لارې یو شمیر هنري لوبغاړې وروزلې او د مؤسسې عایدات یې هم لوړول ؛ ورسره د میرمنو ټولنې سینما هم د هنري او تنویري فلمونو د ښوونې لپاره کار کاوه او د ښار له سینماګانو سره یې د تړون له مخې ، فلمونه ښودل ؛ همدا راز د میرمنو ټولنې کلوپ د میلمستیاوو او ودونو د محلفونو لپاره جوړ شوی ؤ ، د دې ترڅنګ د شهرارا یو لوی دولتي باغ هم د ښځینه باغ په توګه میرمنو ټولنې ته سپارل شوی ؤ چې یو پسرلنی تیاتر هم پکې ؤ چې د

سینما کار هم ترې اخیستل کیده او د ښار عامو ښځو او ماشومانو ته به یې فلمونه او ننداري پکې ښودې او هم یې د تفریح وسایل پکې برابر کړي وو او د ماشومانو او ښځو د لوبو او سپورټ سامانونه یې پکې تهیه کړي وو . (۲۸)

میرمنو ټولنې د ګڼو روزنیزو او فرهنګي فعالیتونو په ترڅ کې د خپل ژوند په لومړۍ لسیزه کې د « میرمن » په نامه یوه مجله هم په ۱۳۳۲ کال کې خپره کړه ، دا مجله لومړۍ په دریو میاشتو کې یوځل خپرېده خو د ۱۳۳۹ کال په وري کې میاشتنۍ شوه چې د ښځو د ژوند او ذوق په اړه یې په خپل اوږده عمر کې په زرهاوو عنوانه مطالب ، شعرونه او تصویرونه نشر کړل . (۲۹)

د میرمنو ټولنې د تبلیغاتو اداري د ښځو د مطالعې او معلوماتو لپاره یوه کتابتون هم جوړ کړی ؤ چې د مطبوعاتو د مستقل ریاست په مرسته یې بنسټ کېښودل شو او تر ۱۳۳۹ کال پورې یې (۲۰۰۰) ټوکه کتابونه درلودل . (۳۰)

د میرمنو ټولنې صناعتي برخې د زرهاوو وزګارو میرمنو لپاره د کار زمینه برابره کړې وه او د دولتي مؤسسو جامې او د اړتیا وړ پردې او نور مواد به یې ګنډلچې دلته له موضوع نه د لیریوالي له امله ترې تیریږو .

پایلیکونه :

۱ - د میرمنو ټولنې د پېژند ګلوۍ رساله ، د میرمنو ټولنې د تبلیغاتو د مدیریت خپرونه ، ۱ مخ ، ۱۳۳۹ کال ، کابل .

۲ - د افغانستان د معارف تاریخ ، دوهم ټوک ، ۱۳ مخ .

۳ - د افغانستان د معارف تاریخ ۱۳/۲ مخ . د میرمنو ټولنې د پېژند ګلوۍ رساله ، لومړی مخ .

٤ - د ميرمنو ټولنې د پيژند ګلوۍ رساله ، ۳ مخ .

٥ - همدا رساله ، ۲ مخ .

٦ - همدا رساله ، ۲ مخ ، د معارف تاريخ ۱٤/۲ مخ .

۷ - همدا پورتني مأخذونه .

۸ - د ميرمنو ټولنې د پيژند ګلوۍ رساله ، ٤ مخ .

۹ - د همدې رسالې ۲۷ مخ .

۱۰ - د يادې شوې رسالې ۲۸ مخ .

۱۱ - همدا مأخذ .

۱۲ - د همدې رسالې ۲۸ - ۲۹ مخونه .

۱۳ - ياده شوې رساله ۳۰ مخ .

۱٤ - همدا مأخذ .

۱٥ - د پورتنۍ رسالې ۳۱ مخ .

۱٦ - د پورتنۍ رسالې ۳۲ مخ .

۱۷ - د معارف تاريخ ، ۱٥/۲ مخ .

۱۸ - د ميرمنو ټولنې د پيژند ګلوۍ رساله ، ۸ مخ .

۱۹ - د افغانستان کلنۍ ، ۳٦ - ۱۳۳۷ کلونه ، ٥٤ مخ .

۲۰ - د ميرمنو ټولنې د پيژند ګلوۍ رساله ، ۹ مخ .

۲۱ - د يادې شوې رسالې ۷ مخ ، د معارف تاريخ ۱٥/۲ مخ .

۲۲ - د ميرمنو ټولنې د پيژند ګلوۍ رساله ، ۸ مخ .

۲۳ - د معارف تاريخ ۱۷/۲ مخ .

۲٤ - د ميرمنو ټولنې د پيژند ګلوۍ رساله ، ۱۰ - ۱۱ مخونه .

۲٥ - همدا رساله ۱۲ مخ .

۲٦ - همدا مأخذ .

۲۷ - د يادې شوې رسالې ۱۳ - ۱٤ مخونه .

٢٨ - د همدې رسالې ١٤ - ١٧ مخونه .

٢٩ - د همدې رسالې ١٨ - ١٩ مخونه . د افغانستان کالنۍ ٣٨ - ١٣٣٩ کلونه ، ٥٣٤ مخ .

٣٠ - د يادې شوې رسالې ٩ مخ .

پنځم څپرکی

د نجونو لوړې زده کړې

د نجونو د ساینس او ادبیاتو پوهنځی :

په ۱۳۲۶ کال کې د پوهنې وزارت په وړاندیز ، د وزیرانو د مجلس په تصویب او د وخت د پاچا په توشیح او منلو سره په افغانستان کې د نجونو د لوړو زده کړو تصمیم وشو (۱) چې د همدې اقدام په رڼا کې د ۱۳۲۷ کال پیلیدلو د افغانستان د نجونو لپاره یو نوی او گټور زیری درلود ، ځکه د همدې کال له پیل سره په هیواد کې د نجونو لپاره د لوړو زده کړو عملي لاره هواره شوه او د پوهنې وزارت د بکلوریا پاس نجونو لپاره د ادبیاتو او ساینس دوه پوهنځي جوړ کړل . تر دې وخته د مستوراتو لیسې دوې دورې نجونې فارغې کړې وې او هم د مستوراتو لیسو د ثانوي زده کړو په برخه کې د لوړو زده-کړو خاوندو روزل شویو معلماتو ته اړه درلوده نو د پوهنې وزارت له

یوې خوا د بکلوریا پاس نجونو د لوړو زده کړو د دوام او له بلې خوا د نجونو د ښوونځیو لپاره د لوړو زده کړو لرونکو ښوونکو د روزنې په غرض په دې کار لاس پورې کړ . په لومړي گام کې د نجونو د لوړو زده کړو لپاره د مستوراتو د لیسې (چې بیا وروسته یې نوم ملالۍ لیسه شو) ودانۍ وټاکله شوه چې د دې لیسې ښوونکې وکړای شي تر غرمې وړاندې نجونو ته درس ورکړي او تر غرمې وروسته خپلې لوړې زده کړې تعقیب کړای شي . (۲)

پوهنې وزارت د نجونو د هڅونې او تسهیلاتو په غرض پټېلې وه چې په دې پوهنځیو کې شاملې نجونې به د معلمېږد بشپړ معاش په اخیستلو سره په اوونۍ کې دوولس ساعته لومړنیو ټولگیو ته درس ورکوي او په اوونۍ کې به اتلس ساعته په پوهنځي کې زده کړه کوي ، د دې پوهنځیو درسونه د پوهنتون د استادانو په وسیله ورکول کیدل ، چې د ساینس په پوهنځي کې فزیك ، کیمیا ، الجبر ، مثلثات ، هندسه ، بیالوژي ، روحیات او ژبه او د ادبیاتو په څانگه کې دري ، ادبیات ، تاریخ ، جغرافیه ، اجتماعیات ، پښتو او روحیات لوستل کیدل . (۳)

د دې پوهنځیو محصلاتو تر څلور کاله زده کړې وروسته د لیسانس سند ترلاسه کاوه او د نجونو په لیسو کې د ساینس او اجتماعیاتو په برخه کې د ښوونکیو په توگه مقرریدلې . (٤)

د ښځو د پوهنځیو اداره د جوړیدو له وخته د ۱۳۳۵ کال تر تلې پورې یو پر بل پسې د ډاکټر علي احمد پوپل ، ډاکټر محمد انس او ښاغلي عزیزالرحمن فتحي ترنظارت لاندې وه ، خو د ۱۳۳۵ کال په تله کې له دې امله چې دا پوهنځی د نجونو له لیسو سره ژور تړون لري ، اداره یې د ملالۍ لیسې مدیرې پیغلې کبرا نورزایي ته وسپارله شوه

(٥) ، دې تر ۱۳۳۷ کال پورې دې کار ته دوام ورکړ چې د پوهنځي په ځینو برخو کې یې مثبت بدلونونه راوستل خو خارج ته د زده کړو لپاره د پیغلې نورزایي په لیږل کیدلو سره د همدې کال په غبرګولي کې محترمه فاطمه طرزي چې د انقرې د پوهنتون لیسانسه وه ، د دې پوهنځیو د تدریسي مرستیالې په حیث وټاکله شوه او کله چې بیرته پیغله نورزایي هیواد ته راستنه شوه نو د ښځو د پوهنځیو د ریاست د کفیلې په حیث وټاکله شوه . (٦)

په ۱۳۳۷ کال کې د ښځو پر دې دوو پوهنځیو یو بل پوهنځی هم ورزیات شو چې د ښځو د طب د پوهنځي نوم ورکړ شو ، د دې پوهنځي د جوړیدو او له دې امله چې د دې دوو پوهنځیو هدف د ښځینه لیسو لپاره د معلماتو روزل وو او تردې وخته په پوره اندازه ښوونکې روزل شوې وې نو په یاد شوي کال کې دې پوهنځیو ته محصلینې ونه نیولې شوې خو بیا هم څرنګه چې د طب پوهنځي یوازې هغه شاګردانې جذبولای شوې چې د طبیعي او ریاضي علومو د زده-کړې استعداد یې درلود ، سره له دې چې د ژوند په نورو برخو کې د ځوانو روزنې ته اړتیا وه نو کابل پوهنتون په دې لټه کې شو چې د ځوانو لپاره د اجتماعي او ادبي علومو د پوهنځي جوړولو امکانات ولټوي او له ۱۳۳۷ کال نه دا پوهنځی خپلې زده کړې پیل کړې . (٧)

تر یوه لنډ رکود وروسته کله چې په ۱۳۳۷ کال کې د ښځو دا پوهنځي بیرته فعال شول نو یو منظم او مرتب پروګرام ورته جوړ شو او په درسي مضمونونو کې یې ژور بدلون راغی ، د ښځو د ادبیاتو په پوهنځي کې د عربي ، جغرافیې ، اجتماعیاتو ، روحیاتو ، تاریخ پښتو ، املاء انشاء او د دري ژبې ګرامر ځای شول ، په ۱۳۳۸ کال کې یو لړ نور مضمونونه ، لکه متون ، د ادبیاتو تاریخ ، بدیع او بیان

پرې ورزيات شول ، په ۱۳۳۹ کال کې کله چې کابل پوهنتون د دې پوهنځي په تګلاره کې نور بدلون هم راووست يعنې پوهنځی يې ترپخوا زيات اجتماعي او ادبي کړ نو د هغه د درسي مضامينو پر پروګرام يې ژور غور وکړ او د لومړی ، دوهم او دريم کال مضمونونه يې په لاندې ډول وټاکل :

په لومړي کال کې : فلسفه ، تاريخ ، صرف او نحو ، پښتو ، اجتماعيات ، او املا او انشاء تدريسيدل ؛

په دوهم کال کې : د ادبياتو تاريخ ، دري ، پښتو ، جغرافيه ، ژوجيات ، تاريخ او دري متنونه ويل کيدل ؛

په دريم کال کې : سنوونه او روزنه ، اجتماعيات ، تاريخ ، د دري ادبياتو تاريخ ، پښتو ، جغرافيه او متنونه ځای شوي وو . (۸)

همد راز دې پوهنځي تر ۱۳۳۹ کال پورې خپل دايمي استادان نه درلودل او تعليمي چارې يې د هلکانو د ادبياتو د پوهنځي استادانو او حق الزحمه يې استادانو په مخ بيولې . (۹)

په همدې ترتيب د ساينس د پوهنځي استادي هم د هلکانو د ساينس د پوهنځي استادانو په غاړه درلوده او تر ۱۳۳۸ کال وروسته د ساينس د پوهنځي محصلينې په پي . سي ، بي کې شاملې شوې . (۱۰)

په ۱۳۳۷ کال کې د ښځو د ادبياتو پوهنځي لومړي ټولګي تر غرمې وړاندې درسونه پيل کړل چې په ۱۳۳۸ کال کې د ښځو د ساينس پوهنځي هم د خپل لومړي ټولګي محصلينې د ملالۍ او زرغونې ليسو له هغو فارغانو نه ونيولې چې په معلمۍ نه وې ټاکلې شوې او تر غرمې وړاندې درسونو ته حاضرې شوې ، په دې توګه دواړو پوهنځيو د امکاناتو له پيدا کيدو سره ، لکه د پوهنتون د نورو پوهنځيو په شان د ورځې له سهار نه خپل درسونه پيل کړل . (۱۱)

د ښځو پوهنځي د ۳۸ کال تر پایه پورې د ملالۍ لیسې په ودانۍ کې خپلو زده کړو ته دوام ورکاوه خو د پوهنې وزارت د همدې لیسې په انګړ کې د دې پوهنځي لپاره یوه الحاقیه وداني پیل کړه چې د ۱۳۳۹ کال په پیل کې بشپړه شوه او د نجونو د پوهنځي محصلاتو په دې نوې ودانۍ کې خپل اساسي درسونه پیل کړل . (۱۲)

د نارینه وو د ساینس پوهنځي د ساینس په زده کړه کې د پوهنتون په سویه پوره تجربه کړې وه او په دې اړوند یې لازم وسایل چمتو کړي وو او لایق استادان او مجهز لابراتوارونه یې درلودل نو د پوهنتون ریاست ، په ۱۳۳۹ کال کې د نجونو د ساینس د پوهنځي چارې هم همدې پوهنځي ته وسپارلې چې دواړه پوهنځي له دې وسایلو نه په ګډه استفاده وکړي . (۱۳)

په همدې ډول د ښځو د ادبیاتو پوهنځي هم تر ۱۳۳۹ کال پورې کوم کتابتون نه درلود چې محصلینې د خپلو صنفي درسونو په شاوخوا کې استفاده ترې وکړي او له دې امله په ستونزو کې وو ، کابل پوهنتون د دې ستونزې د لرې کولو لپاره د ۱۳۳۹ کال په اوایلو کې د هلکانو د ادبیاتو پوهنځي کتابتون د ښځو د پوهنځي وداني ته ولیرداوه چې د دې پوهنځي زده کوونکي استفاده ترې وکړای شي . (۱٤)

د ښځو د ادبیاتو او ساینس د پوهنځیو د شاملانو شمیر له شروع ۱۳۳۷ نه تر ۱۳۳۹ کال پورې په لاندې ډول ؤ :

کال	د شاملانو شمیر
۱۳۲۷	۲۰ تنې
۱۳۲۸	۲۷ تنې
۱۳۲۹	٤۱ تنې
۱۳۳۰	٤۱ تنې

کال	د شاملاتو شمیر
۱۳۳۱	۳۸ تنې
۱۳۳۲	۵۰ تنې
۱۳۳۳	٤۵ تنې
۱۳۳٤	٤۱ تنې
۱۳۳۵	٤٤ تنې
۱۳۳٦	۲۰ تنې
۱۳۳۷	۳۰ تنې
۱۳۳۸	۵۰ تنې
۱۳۳۹	٦۵ تنې (۱۵)

همدا راز د دې پوهنځيو د فارغانو لړۍ تر څلور کاله زده کړې وروسته په ۱۳۳۰ کال کې پیل شوه چې په لاندې شمیر فارغانې یې ټولنې ته وړاندې کړې :

کال	د ادبیاتو فارغانې	د ساینس فارغانې	ټولې
۱۳۳۰	۹ تنې	۷ تنې	۱٦ تنې
۱۳۳۱	۷ تنې	۷ تنې	۱٤ تنې
۱۳۳۲	۳ تنې	۷ تنې	۱۰ تنې
۱۳۳۳	٦ تنې	٤ تنې	۱۰ تنې
۱۳۳٤	٦ تنې	۹ تنې	۱۵ تنې
۱۳۳۵	۱٦ تنې	٤ تنې	۲۰ تنې
۱۳۳	؟ تنې	۲ تنې	؟ تنې
۱۳۳۷	؟ تنې	۸ تنې	؟ تنې (۱٦)

تر ۱۳۳۹ کال وروسته د ساینس دواړه پوهنځي سره یو شول او هلکانو او نجونو ګډه (مختلطه) زده کړه پکې پیل کړه (۱۷) او همدا

راز د ځجونو د ادبیاتو پوهنځي په ۱۳٤۰ کال کې د پوهنې د انکشافي پلان له مخې د هلکانو د ادبیاتو له پوهنځي سره یوځای شو او د دې پوهنځي هلکانو او نجونو هم ګډه زده کړه پیل کړه . (۱۸)

د نجونو د طب پوهنځی :

د هیواد د ټولو چارو له پلانیزه کیدلو سره په لومړي پنځکلن پلان (۱۳٤۰ - ۳۵) کې د نجونو د طب د پوهنځي جوړول هم په نظر کې وو او له همدې امله د طب د پوهنځي د هغه وخت رئیس ډاکټر محمد عثمان انوري د دې نظر د عملي کولو لپاره له حکومت سره خبرې وکړې چې تر ژورې مطالعې او هر اړخیزې څیړنې وروسته د ۱۳۳٦ کال د وري له دریمې نیټې نه د نجونو د طب پوهنځي محصلینو د مېرمنو روغتون په ودانۍ کې په زده کړو پیل وکړ ، د دې پوهنځي د جوړولو لپاره د طب د پوهنځي په بودجه کې (۲۹۵٦٤/٦۲) افغانۍ ځانګړې کړای شوې . (۱۹) په دې پوهنځي کې لومړی ځل ۱۷ تنې نجونې شاملې او په پي . سي . بي کې یې زده کړې پیل کړې ، د دې پوهنځي لومړنی مدیر ډاکټر میرزا محمد عطاؤ او له هماغه لومړي سره عصري لابراتوارونه چې په عصري سامان آلاتو مجهز وو ، ورته جوړ شول . (۲۰)

د طب په پوهنځي کې د ملالۍ او زرغونې د لیسو فارغانې شاملیدې او د زده کړې ټوله دوره یې اووه کاله وه چې لومړی کال یې پي . سي . بي او وروستی کال یې د ستاژ دوره وه ، د دې پوهنځي درسي مضامین د نارینه وو د طب له پوهنځي سره یو شان وو خو په دې پوهنځي کې د توپیر ټکی دا وُ چې دکوچنیانو د روغتیا ساتنې او ولادې او نسایي مضمونونو ته زیاته پاملرنه کیدله ، همدا راز درس د

نارینه وو د طب پوهنځي استادانو ورکاوه ، په همدې ډول د ښځو د طب پوهنځي زده کوونکې د پوهنځي له ټولو مادي حقوقو نه برخمنې وې او هم هرکال هرې یوې محصلې ته (۱۰۰۰) افغانۍ د جامو لپاره ورکول کیدلې ، پتیبیل شوې وه چې د ښځو د طب پوهنځي فارغانې به د میرمنو په روغتون کې په عملي کار گومارلې کیږي . (۲۱)

په ۱۳۳۸ کال کې د ښځو د طب د پوهنځي محصلینې ۵۸ تنې او په ۱۳۳۹ کال کې ۷۳ تنې وې،دې پوهنځي له جوړېدو تر ۱۳٤٦ کال پورې په لسو کلونو کې ۵۹ ډاکترانې ټولنې ته وړاندې کړې چې یو شمیر یې د طب پوهنځي په علمي کدر کې ونیولې او یو شمیر نورې یې په روغتیا وزارت کې په روغتیایي خدمتونو بوختې شوې ، له دې ډلې څخه په ۱۳٤۷ کال کې د طب د پوهنځي ۹ تنې فارغې ډاکترانې د طب او فارمسی پوهنځي په علمي کدر کې په خدمت بوختې وې . (۲۲)

د ۱۳۳۹ کال په غبرگولي کې د ښځو د نهضت په لړ کې د ښځو د طب پوهنځي د نارینه وو د طب له پوهنځي سره یوځای شو او هلکانو او نجونو د طب په ساحه کې گډو زده کړو ته دوام ورکړ . (۲۳)

د کورني چارو پوهنځی :

د کورني چارو پوهنځی د ښځو لپاره څلورم ځانگړی پوهنځی ؤ چې د ۱۳٤۱ کال په وري کې د کابل پوهنتون په چوکاټ کې رامنځته شو دغه پوهنځی د مسلکي زده کړو ، د ژوندانه په ساحه کې د افغاني پیغلو د روزنې او په اجتماعي او اقتصادي ساحو کې د نننې ژوند له اصولو ار رمزونو سره د هغوی د اشنا کولو په منظور رامنځته شو . (۲٤)

دې پوهنځي په لومړني تعلیمي کال کې یو ټولگی درلود چې ۱۸ تنو محصلانو زده کړه پکې کوله ، کوم مضامین چې په دې پوهنځي

کې تدریسیدل هغه له عمومي موضوعاتو سره تړلي وو ، لکه د افغانستان جغرافیه ، تاریخ ، روحیات ، د ښوونې او روزنې مبادي ، پښتو ، انګلیسي ، دري ، روغتیا پالنه ، بیالوژي او کیمیا خو د دغه عام پروګرام د فعالیتونو مفردات داسې ترتیب شوي وو چې په ټولو کې له ټولنیز او کورني ژوندون سره اړوند اړخونه نغښتل شوي وو . (۲۵)

په ۱۳٤۲ تعلیمي کال په دې پوهنځي کې د دوهم ټولګي په ورزیاتیدو سره ، په دې ټولګي کې پر یادو شوو اجتماعي او ساینسي مضامینو سربیره درې اختصاصي کورسونه ورزیات شول چې د کور چارې ، د آرټ مبادي او د جامو د برش ، ترتیب او ګنډلو اصول پکې ورښودل کیدل او یو کتابتون ، مجهز پخلنځی او د ګنډلو یو لابراتوار هم پکې شامل وو . (۲٦)

ګډې زده کړې :

تر ۱۳۳۹ کال وروسته ورو ورو پوهنتوني زده کړې په مختلط ډول دود شوې او د پوهنتون په اکثرو پوهنځیو کې د هلکانو ترڅنګ نجونې هم شاملې شوې چې تر ٤۳ کال پورې نجونو د طب ، حقوقو ، ادبیاتو ، ساینس ، ښوونې او روزنې ، دوا جوړونې او شرعیاتو په پوهنځیو کې له هلکانو سره یوځای زده کړې کولې او په همدې کال د کابل پوهنتون په علمي کدر کې ۲۳ تنې لیسانسه ښځمنې د استادۍ په دنده بوختې وې . (۲۷)

په ۱۳٤۱ کال کې د علومو له پوهنځي نه درې تنې نجونې فارغې شوې او د همدې پوهنځي له دوهم نه تر څلورم ټولګي پورې ۲۰ تنې نجونې په زده کړو بوختې وې او په همدې کال په ساینس پوهنځي کې ٦٦ تنو نجونو زده کړه کوله (۲۸) په ۱۳٤۲ کال د اقتصاد په

پوهنځي کې ۳۸ تنې نجونې شاملې وې (۲۹) همدا راز په ۱۳٤٤ کال کې د ښوونې او روزنې د کورني چارو له پوهنځي نه ۱٦ تنې ښوونکې او په ۱۳۵٤ کال کې اووه تنې ښوونکې فارغې شوې . (۳۰)

له ۳٦ کال نه تر ۱۳٤۷ کال پورې د پوهنتون په بیلا بیلو پوهنځیو کی د نجونو او هلکانو شمیره په لاندې ډول وه :

كلونه/پوهنځي	طب هلكان	طب نجوني	حقوق هلكان	حقوق نجوني	علوم هلكان	علوم نجوني	ادبيات هلكان	ادبيات نجوني	شرعيات هلكان	شرعيات نجوني	انجنيري هلكان	انجنيري نجوني	كرنه هلكان	كرنه نجوني	اقتصاد هلكان	اقتصاد نجوني	مبرونه روزنه هلكان	مبرونه روزنه نجوني	دوهم طب هلكان	دوهم طب نجوني
١٣٣٦	١٥٢	١٧	٢٧٦	.	٢٢٠	.	١٢٤	.	٨٠	.	٤٥	.	٢٤	.	٢٠	.	.	.	.	.
١٣٣٧	٢٩٨	٢٠	٢٧٦	.	٢٢٦	.	١٥٠	.	٨٦	.	٦٧	.	٤٤	.	٨٠	.	.	.	.	.
١٣٣٨	٣٣٠	٤٢	٣٦٩	.	٢٤٧	.	١٦٦	.	٩٢	.	٧٧	.	٧٨	.	١١٦	.	.	.	.	.
١٣٣٩	٣٥٤	٥١	٣٠٩	.	٢٩١	.	١٧٥	.	٧٦	.	١٨٤	.	٩٤	.	١٢٠	.	.	.	.	.
١٣٤٠	٣٧٢	٥٤	٢٦٦	١٠	٣٧٠	٤٥	٢٢٨	٩٢	٨٣	.	١٤٢	.	١٣٧	.	١٢١	١٢	.	.	.	.
١٣٤١	٤٢٩	٦٤	٢٩١	١٩	٢٩٨	١٠	٢٥١	١٢٠	٨٠	.	١٧٠	.	١٤٧	.	١٥٤	٢٧	٢٩	١٥	.	.
١٣٤٢	٤٢٩	٨٥	٣٦٤	٣٣	٣٠٣	٧٦	٢٧٤	١٦٠	٨٥	.	١٨٩	.	١٤٧	.	١٩٠	٦٤	٤١	١٢	.	.
١٣٤٣	٤٦٩	٩٦	٤٠٩	٥٧	٣٨٣	٨٤	٢٨٤	١٠٢	٩٢	.	٢٥٢	.	١٩٠	.	٢٢٨	٦٩	١٠١	١٠٠	.	.
١٣٤٤	٤٣٧	٧٧	٤٥٨	٥١	٣٢٩	٨٨	٢٩٩	١٥٠	١٠٦	.	٢٨٨	٥	١٤٠	.	٣٠٦	٥٨	١٣٧	٢٠٨	.	.
١٣٤٥	٥٠٣	١٠٦	٤٢٩	٤٧	٣٠٢	٤٨	٣٧٩	١٨٠	١٢٤	٢٢	٣٠٦	٣	١٢٨	.	٢٦٠	٣٤	١٨٣	٢١٧	.	.
١٣٤٦	٥٣٦	١٠٠	٤١١	٣٩	٣٠٣	٦٧	٤١١	١٦٣	١٥٧	٦٥	٣٦٩	.	١٩٥	١	٢٧٠	٢٦	٢٠٧	٢١٣	١٠٦	١

(٣٦)

یادونه : په همدې کتاب کې راغلې هغه احصائیې چې د طب ، حقوقو ، علوم او اقتصاد د پوهنځیو په باب په ځانګړې ډول راغلي له دې جدول سره څه ناڅه توپیر لري خو ما یې توپیرونه ونه سنودل نو که دا جدول قاطعه احصائیه نه شي راکولی البته یوه تقریبي احصائیه تری ترلاسه کولای شو (د مقابلې لپاره وګوری* د همدی کتاب ۶۰۳ ، ۶۰۷ ، ۶۰۸ ، ۶۱۵ مخونه) .

د یو بل جدول له مخې په ۱۳۵۱ کال کې د پوهنتون د بیلا بیلو پوهنځیو د نجونو او هلکانو پرتلیزه احصائیه په لاندې ډول ده :

پوهنځی/ټولګی		پي . سي . بي	لومړی	دوهم	دریم	څلورم	پنځم	شپږم	ټول
طب	هلکان	١٤٦	٨٨	١١٧	٧٨	٤١	٦٨	٦٥	٦٠٣
	نجونې	١٦	٨	٧	٧	١٠	١٤	١٦	٧٨
حقوق	هلکان	.	١٣٦	١١١	١٩٢	٩٠	.	.	٥٢٩
	نجونې	.	٨	١٧	٩	٣	.	.	٣٧
علوم	هلکان	.	١٩٣	١٧٩	٢٢١	١٢٣	.	.	٧١٦
	نجونې	.	٤٠	٣٣	٤٥	٢٠	.	.	١٣٨
ادبیات	هلکان	.	٣٧١	٢١١	٢٤٠	٢١٧	.	.	١٠٣٩
	نجونې	.	٧٩	٣٤	٣٤	٢٨	.	.	١٧٥
شرعیات	هلکان	.	٩١	٣٦	٤٧	٥٣	.	.	٢٢٧
	نجونې	.	٤٣	.	٥	٤٨	.	.	٩٦
انجنیري	هلکان	.	١٧٢	٩٩	٩٩	٤٨	.	.	٤١٨
	نجونې	.	٧	.	٧	٣	.	.	١٧

پوهنځی/تولګی	بي · سي · بي	لومړی	دوهم	دريم	څلورم	پنځم	شپږم	ټول
کرنه هلکان	.	۲٤۳	۷۸	۲۲۱	۱۹۰	.	.	۷۳۲
نجونې	.	۲	.	۱	.	.	.	۳
اقتصاد هلکان	.	۱۲۸	۸۷	۷۷	۷۲	.	.	۳٦٤
نجونې	.	٦	٦	٤	۳	.	.	۱۹
فارمسي هلکان	.	٦٥	۳۰	۲٥	۱۸	.	.	۱۳۸
نجونې	.	٤	۲	۱۱	۱	.	.	۱۸
سوونه او روزنه هلکان	.	۱۷۹	۷٤	۱۰۱	۱۰٥	.	.	٤٥۹
نجونې	.	٥٤	۳۹	٤۱	۳۲		.	۱٦٦
د ننګرهارطب هلکان	۸٦	۸۱	۱۰٤	۹٤	٦٥	٤۲	.	٥۱٤
نجونې	٤	۲	۱	۱	۱	۱	٤۲	۱۰
پوليتخنيك هلکان	.	٤۳٤	۲٦۹	۱٦۸	۱۲۸	۱۰٦	.	۱۱۰٥
نجونې	.	۳۰	۹	۱	۱	.	.	٤۱

پوهنځی/ټولګی		پي . سي . بي	لومړی	دوهم	دریم	څلورم	پنځم	شپږم	ټول
عالي دارالمعلمین	هلکان	۰	۹۲۸	۵٤۱	۰	۰	۰	۰	۱٤٦۹
	نجوني	۰	۲٦٤	۲۳۱	۰	۰	۰	۰	٤۹۵
د صنعتاداري انستیتوت	هلکان	۰	۹۳	۵۰	۵۱	۰	۰	۰	۱۹٤
	نجوني	۰	۱۵	۱	۱	۰	۰	۰	۱۷
ټول	هلکان	۲۳۲	۳۲۰۲	۱۹۸٦	۱٦۱٤	۱۱۵۰	۲۱٦	۱۱۷	۸۵۰۷
	نجوني	۲۰	۵٦۲	۳۸۰	۱٦۷	۱۵۰	۱۵	۱٦	۱۳۱
ټول محصلین		۲۵۲	۳۷٦٤	۲۳٦٦	۱۷۸۱	۱۳۰۰	۳۲۱	۱۲۳	۹۸۱۷

(۳۲)

د نجونو لیلیه :

څرنګه چې د دریم پنځه کلن پلان (۱۳٤۹ - ۱۳۵۰) په اوږدو کې د هیواد د ولایاتو ګڼو ښځینه لیسو خپلې فارغانې رامنځ ته کولې او په ولایاتو کې پوهنتوني زده کړې نه وې نو د پوهنې وزارت د دې لپاره چې د ولایاتو نجونو ته هم د لوړو زده کړو لاره هواره شي ، په مرکز کې د یوې ښځینه لیلیې جوړولو ته لاس وغځاوه ، تاکل شوې وه چې په دې شپنۍ (لیلیه) کې (۲۰۰) تنې محصلانې ژوند وکړای شي او په دې توګه د ولایاتو نجونو ته هم د لوړو زده کړو بنیادي لاره هواره شي . (۳۳)

د نجونو لپاره بهرنۍ زده کړې :

په ۱۳۰۷ کال کې بهر ته د زده کړو لپاره د نجونو د لیږلو او د هغوی تر ناکامه راستنیدلو وروسته بهر ته د زده کړو لپاره د نجونو د لیږلو موضوع د ډیرې اوږدې مودې لپاره د هیرې غیږې ته وسپارله شوه خو په ۱۳۲۹ کال کې دولت یو ځل بیا له یوې معقولې لارې د نجونو د بهرنیو زده کړو لپاره اقدام وکړ .

دې هدف ته د رسیدو په غرض د پوهنې وزارت چې په هیواد کې دننه د نجونو د لوړو زده کړو لپاره اقدام کړی وُ په ۱۳۲۹ کال کې پریکړه وکړه چې د نجونو د ښوونځیو د ساینس ، تاریخ او جغرافیې درسونه باید هغه کورنۍ ښوونکی ورکړي چې د همدې هدف لپاره روزلې شوې البته د بهرنیو ژبو درسونه به بهرنۍ ښوونکي ورکوي خو د دی ترڅنګ په بهر کې د افغاني نجونو د زده کړو لپاره د پوهنې وزارت پریکړه وکړه چې د بهرنیو چارو د وزارت هغه مامورین چې له هیواد نه بهر دې پایه سفارتخانو او قونسلګریو کې کار کوي او هم په بهرنیو

هیوادو کې زموږ کلتوري او نظامي اتاشې چې ماندینې یې لوړه سویه لري یا هغه محصلین یا ډاکټران او پروفیسران چې د لوړو زده کړو لپاره له هیواد نه بهر استول کیږي او ماندینې یې هم د ځجونو له لیسو فارغې شوې وي نو دا ښځې د خپل شرعي محرم په درلودلو سره کولای شي په خارج کې په بیلا بیلو مسلکونو کې د پوهنې وزارت په لګښت لوړې زده کړې وکړي (۳٤) له همدې امر سره سم له هیواد نه بهر هغو شپږ تنو میرمنو چې شرعي محرم یې درلودل د پوهنې وزارت په لګښت خپلې لوړې زده کړې پیل کړې . (۳۵)

په همدې لړۍ کې د روزل شویو ځجونو له ډلې نه په ۱۳۳۸ کال کې یوه افغانې فارغ التحصیله حمیده نواز چې په لویدیځ آلمان کې یې طبي زده کړې کړې وې کابل ته راستنه او د نرسنګ د ښوونځي د مدیرې د کفیلې په حیث مقرره شوه . (۳٦)

په دې سربیره په ۱۳٤۲ کال کې د کورني چارو د پوهنځي دوې زده کوونکې خارج ته د تخصص د ترلاسه کولو لپاره ولیږلې شوې او بیا نو بهر ته د ځجونو د لیږلو سلسله عامه او عادي شوه او ګنې پیغلې او ښځې بهر ته د لنډ مدته او اوږد مدته زده کړو لپاره ولیږلې شوې چې بیرته هیواد ته بریالۍ راستنې شوې او د اجتماعي او دولتي چارو په بیلا بیلو څانګو کې په کار بوختې شوې .

پایلیکونه :

۱ - معارف افغانستان در پنجاه سال اخیر ، دوهم ټوک ، ٦٦ مخ ، کابل پوهنتون ، ۱۳٤۷ کال ، کابل .

۲ - د ۲۷ - ۱۳۲۸ کال کابل کالنۍ ، ۳٦٦ مخ ، پښتو ټولنه ، ۱۳۲۸ ، کابل .

٣ - د افغانستان د معـارف تاريخ ، دوهم ټوك ، ٥ ، ٧٨ مخونه ، د ٢٧ - ١٣٢٨ کال کابل کالنی .

٤ - د افغانستان د معارف تاريخ ، دوهم ټوك ، ٥ - ٦ مخونه .

٥ - د افغانستان د معارف تاريخ ، دوهم ټوك ، ٧٩ مخ .

٦ - معارف افغانستان در پنجاه سال اخير ، ٦٥/٢ مخ .

٧ - د افغانستان کالنی ، ٣٦ - ١٣٣٧ کلونه ، ٢٩٥ مخ .

٨ - معارف افغانستان در پنجاه سال اخير ، دوهم ټوك ، ٦٦ مخ .

٩ - همدا کتاب ، ٢٦ مخ .

١٠ - د همدې کتاب ٦٩ مخ .

١١ - معارف افغانستان در پنجاه سال اخير ، ٦٥/٢ مخ .

١٢ - د افغانستان کالنی ، ٣٨ - ١٣٣٩ کلونه ، ٣٢٢ مخ .

١٣ - همدا پورتنی کالنی ، ٣١٨ مخ .

١٤ - معارف افغانستان در پنجاه سال اخير ، ٦٥/٢ مخ .

١٥ - همدا ياد شوی کتاب ، ٦٧/٢ .

١٦ - د همدې کتاب د دوهم ټوك ٦٧ ، ٦٩ ، ٧٠ مخونه .

١٧ - همدا کتاب ٦٩ مخ .

١٨ - د همدې اثر ٦٦ مخ .

١٩ - همدا کتاب دوهم ټوك ، ٩٦ مخ .

٢٠ - د افغانستان کالنی ، ٣٦ - ١٣٣٧ کلونه ، ٢٠٦ مخ .

٢١ - د افغانستان د معارف تاريخ ، دوهم ټوك ، ٨٠ مخ .

٢٢ - د افغانستان کالنی ، ٣٦ - ١٣٣٧ کلونه ، ٢٩٠ مخ .

٢٣ - معارف افغانستان در پنجاه سال اخير ، ٩٦ مخ .

٢٤ - د افغانستان کالنی ، ٤١ - ١٣٤٢ کلونه ، ٥٤٤ مخ .

٢٥ - همدا ياد شوی اثر ، ٥٤٥ مخ .

۲۶ - د همدې یاد شوي اثر پورتنی مخ .
۲۷ - د افغانستان کالنی ، ۴۳ - ۱۳۴۴ کلونه ، ۷۷ مخ .
۲۸ - د افغانستان کالنی ، ٤۱ - ۱۳٤۲ کلونه ، ۲٥٤ مخ .
۲۹ - د همدې کالنی ٥۳٦ مخ .
۳۰ - معارف افغانستان در پنجاه سال اخیر ، دوهم ټوک ، ۲٥٦ مخ .
۳۱ - همدا اثر ٥۹۹ مخ .
۳۲ - احصائیه معارف افغانستان ، ۱۳٥۱ کال ، ٤۱ مخ ، د پوهنې وزارت ، د پلان ریاست خپرونه .
۳۳ - معارف افغانستان در پنجاه سال اخیر ، دوهم ټوک ٤۹۸ مخ .
۳٤ - د ۱۳۲۹ کال کابل کالنی ، ۹٦ مخ .
۳٥ - همدا کالنی .
۳٦ - د افغانستان کالنی ۳۸ - ۱۳۳۹ کلونه ، ۳۰۱ مخ .
۳۷ - د افغانستان د ٤۱ - ۱۳٤۲ کلونو کالنی ، ٥٤٥ مخ .

PROPERTY OF ACKU
٦٥١٥

Serial No: 96-

Historical Trends of womens Education in Afghanistan

By

Habibullah Rafi

Published

By

The Writers Union of Free Afghanistan (WUFA)

Peshawar 1996-

Copies 2000-